د افغانستان اسلامي امارت
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت
د مالي او اداري چارو عمومي ریاست
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

مجله
شهید

MMD.gov.af @MMD.gov.af 717

د شهیدانو او معلولینو چارو محترم وزیر پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم!

الحمدلله

دا یو څرګند حقیقت دی چې د شهیدانو محترمو کورنېو او ډېرې معلولیت لرونکو وګړو د هېواد خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتیا، د دیني او اسلامي ارزښتونو په دفاع او قرآني نظام د تنفیذ لپاره قرباني ورکړې، د ګران هېواد ستر ملت نن د هغو په سرښندنو او کارنامو ویاړي.

الحمدلله چې د شهیدانو درنو وارثینو، معلولینو او د افغانستان دې دردېدلي او کړېدلي قشر ته د اسلامي نظام تر چتر لاندې خدمت کوم.

الحاج ملا عبدالمجید آخند
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت وزیر

لـړلیـک

سرلیکنه ۱
د ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو مجموعي شمېر ۲
د یتیم د کفالت او پالنې فضیلت ۳
د شهید مولوي احسان الله احسان صاحب ژوند او کارنامو ته کتنه ۸
مهم خبرونه او راپورونه ۱۴
معلولیت او د معلول وړتیاوو پیژندنه ۴۰
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د بشري سرچینو له رئیس سره مرکه ۴۶
له یوه تن معلول سره ځانګړې مرکه ۴۹
شعر او ادب ۵۱

د امتیاز خاوند : د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت
مسئول مدیر : مفتي فیصل "خاموش"
د تصحیح مدیر : فرید الله "پکتیاوال"
خبریال : حشمت الله "محمدي"
ډیزاینر : نعمت الله "نظري"

کـتنپـلاوی
مولـــوي کلیـــم الله *افغان*
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مالي او اداري چارو عمومي رئیس

قاري شاه محمد *دوست*
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دفتر رئیس

مولوي محمد موسی *صدیقي*
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د بشري سرچینو رئیس

یــادونــه

"له سرلیکنې پرته د نورو لیکنو سپیناوی د درنو لیکوالانو په غاړه دی"

د هوایي ډګر عمومي سړک، خیاط کلا، کابل، افغانستان
+93 775152652
mmd.gov.af@gmail.com

سـرلیکنه

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مجله د اسلامي امارت د واک ته رسیدو څخه وروسته د لومړي ځل لپاره چاپیږي، په دي مجله کې په دیني تولنیزو او ادبي معلوماتو سربیره د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د غونډو، پریکړو، کړنو، فعالیتونو، لاسته راوړنو او همدارنګه یتیمانو، کونډو او معلولیت لرونکو وګړو ته د خدمتونو وړاندې کولو د څرنګوالي په هکله معلومات وړاندې کیږي.

څرنګه چې ټولو ته څرګنده ده په هېواد کې د څو لسیزو جهادونو، انقلابونو، جګړو او ناخوالو په ترڅ کې ډیرى شمېر هېوادوال د بیلابیلو عواملو له امله زیانمن شوي دي، د دغو جګړو په ترڅ کې ځینې هېوادوال شهیدان شوي چې له هغو څخه کونډې او یتیمان اسلامي امارت ته په میراث ورپاتې دي او ډیرى شمېر نور معلول شوي دي او په دې سربیره د طبیعي معلولینو پالنه هم اسلامي امارت ته ورپه غاړه ده.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ټل هڅه کړې ده تر څو ورپاتې شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د ژوند د هوساینې زمینه برابره کړي، یاد وزارت په تیرو دوه کلونو کې هم له خپل اړخه او هم د خیریه بنسټونو او مؤسساتو په مرسته او همغږۍ، یتیمانو او معلولینو ته د حرفوي زده کړو او تعلیم زمینه برابره کړې ده.

یاد وزارت، سره له دې چې د مجاهدینو د سپیڅلو شهیدانو یتیمان، کونډې او همدارنګه معلولین ثبت کړي دي د تېرې اداري هغه نظامیان چې شل کاله د مجاهدینو سره په جګړه کې بنکیل وو او ډیرى مجاهدین یې شهیدان کړي او مجاهدینو ته یې په زندانونو کې ډول ډول شکنجې ورکړې وې، خو بیا هم د اسلامي امارت د مشرانو د شفقت او مهربانۍ په اساس د هغوى پاتې یتیمان، کونډې او معلولین له هر ډوله تبعیض پرته ثبت او راجستر شوي دي او د اسلامي امارت د سپیڅلو شهیدانو د ورثه ؤ او معلولینو په څېر میاشتنۍ نغدي مرستې یا (مساعدتونه) ورکول کیږي.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مرکز په شمول په ټولو ولایتونو کې تر دې دمه شپږ لکه، څوارلس زره، نه سوه لس (۶۱۴۹۱۰) تنه معلولین، کونډې او یتیمان ثبت کړي دي.

له دې جملې څخه یو لک او پنځه اویا زره، اوه سوه، یو اویا (۱۷۵۷۷۱) تنه معلولین، نوي زره، شپږ سوه او پنځه څلویښت (۹۰۶۴۵) تنه کونډې او درې لکه اته څلویښت زره، څلور سوه او څلور نوي (۳۴۸۴۹۴) تنه یتیمان شامل دي.

همدارنګه د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت تر دې دمه یو لک اته پنځوس زره، دوه سوه او پنځه دیرش (۱۵۸۲۳۵) د اسلامي امارت د سپیڅلو شهیدانو، یتیمان، کونډې او معلولین ثبت کړي دي.

یاد وزارت یو لک، اوه لس زره او څلور سوه څلویښت (۱۱۷۴۴۰) تنه د تیرې اداري یتیمان، کونډې او معلولین او همداراز درې لکه، نه دیرش زره، دوه سوه پنځه دیرش (۳۳۹۲۳۵) تنه ملکي یتیمان، کونډې او معلولین ثبت او راجستر کړي دي.

یاد وزارت توانیدلی چې خپل فعالیتونه په مؤثره توګه تنظیم کړي، له شته امکاناتو څخه سمه ګټه واخلي، د اصلاحاتو په لور بنسټیز ګامونه پورته کړي چې د وزارت لپاره قانون (مقررې) د بیلابیلو برخو لپاره کړنلارې او طرزالعملونه جوړ شوي دي او همداراز د دې مؤثرو ګامونو څخه یو هم په مرکز او ولایتونو کې د یتیمانو، کونډو او معلولینو د ثبت او بایومتریک په موخه د نوي الکترونیکي سیستمونو فعالول یادولی شو، همدارنګه یاد وزارت د مراجعینو په کارونو کې د ځنډ او ځنډ د مخنیوي په موخه اداري پروسې تر ډیره کچه ساده کړې دي.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مرکز په شمول په ټولو ولایتونو کې یتیمانو، کونډو او معلولینو ته میاشتني نغدي مرستو د ورکړې په پروسه کې د شفافیت او چټکتیا د رامنځته کولو په موخه میاشتنۍ نغدي مرستې د بانکي سیستم له لارې حواله کوي چې په یاده پروسه کې د ځنډ او ځنډ مخنیوی کیږي، یاد وزارت په ډیرو نورو برخو کې هم یتیمانو، کونډو او معلولینو ته آسانتیاوې برابرې کړې دي.

موږ هڅه کوو چې په دې مجله کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د غونډو راپورونه، لاسته راوړنې او د یتیمانو، کونډو او معلولینو د پالنې او روزنې د اهمیت په هکله مقالې او همداراز په بیلابیلو برخو کې دیني او ټولنیز معلومات تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کړو.

د ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو مجموعي شمېر

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت

مجموعي ثبت شوي یتیمان، کونډې او معلولین	۶۱۴۹۱۰
مجموعي ثبت شوي یتیمان	۳۴۸۴۹۴
مجموعي ثبت شوي معلولین	۱۷۵۷۷۱
مجموعي ثبت شوي کونډې	۹۰۶۴۵
د اسلامي امارت د سپیڅلو شهیدانو ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو مجموعي شمېر	۱۵۸۲۳۵
د ثبت شویو ملکي یتیمانو، کونډو او معلولینو مجموعي شمېر	۳۳۹۲۳۵
د تیري اداري د ثبت شوي یتیمانو، کونډو او معلولینو مجموعي شمېر	۱۱۷۴۴۰

د یتیم د کفالت او پالنې فضیلت

مفتي فیصل خاموش
د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس

د اسلام سپیڅلي دین د یتیمانو پالنې ته هڅونه کړې ګڼ شمیر فضایل یې بیان کړي نو ځکه خو ډیری محدثینو او فقهاء کرامو په خپلو کتابونو کې په بیلا بیلو عنوانو او عبارتونو سره بابونه راوړي ځینو یې مختصر او ځینو نورو بیا وربانديې تفصیلي بحث او ددوی اړوند مسائل یې ډیر ښه روښانه کړي د ټولو مقصد او مرام یو دی هغه دا چې په ټولنه کې د یتیم سره ښیګڼه د الله (ج) د رضا سبب ګرځي او الله (ج) بنده ګانو ته له یتیم سره دلطف ، مهرباني سپارښتنه کړې همدا راز پیغمبر صلی الله علیه وسلم د یتیم پالونکي ته جنت کې د ډېر نږدیوالي زیری ورکړی دا چې زمونږ ګران هیواد افغانستان یو داسې هیواد دی چې د نورو هیوادونو په نسبت دلته د یتیمانو شمېره ډیره لوړه ده ځینې داسې کورنۍ هم شته چې په یو کور کې د یتیمانو شمېره دیرشو (۳۰) ته رسیږي په هر کلي او ښار کې داسې یتیمان شتون لري چې د غربت او فقر کیسې یې د سړي زړه ته ټکان ورکوي بناء دغې مهمې موضوع ته له داخلیدو وړاندې لومړی باید یتیم وپیژنو تر څو یې د حقوقو د ادا کولو په موخه مسلمانان وهڅوو.

یتیم چا ته ویل کیږي

یتیم په لغت کې یواځې والي او انفراد په معنی دی او په اصطلاح کې هغه چاته ویل کیږي چې بلوغ ته له رسیدو مخکې یې پلار مړ شوی وي برابره خبره ده غریب وي او که مالداره د فقهي مشهورعلماء کرامو لکه علامه عبدالله بن محمود او علامه ابن نجیم رحمه الله په خپلو کتابونو کې داسې تعریف کړی:

وَالْيَتِيمُ: كُلُّ مَنْ مَاتَ أَبُوهُ وَلَمْ يَبْلُغِ الْحُلُمَ، غَنِيًّا كَانَ أَوْ فَقِيرًا ((الاختيار لتعليل المختار ۵/۸۰ البحرالرائق ۸/۵۱۲))

همدا راز د شریعت له مخې یتیم د بلوغ تر وخته پورې یتیم بللی شي، په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: لَا يُتْمَ بَعْدَ الِاحْتِلَامِ (ابو داود ۳/۱۱۵)

عثمان بن علی الزيلعي په خپل کتاب کې لیکلي :چې یتیم په حقیقت کې د هغه کوچني نوم دی چې بلوغ ته نه وي رسیدلی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي له بلوغ وروسته یتیمتوب نشته او دا خبره علامه بدرالدین عیني رحمه الله په خپل کتاب ((عمدة القاري ۶/۱۵۴)) او نورو ډیرو علماء کرامو ذکر کړې ده. د امام ابویوسف او محمد رحمهم الله په اند پنځلس (۱۵) کلونو په پوره کیدو سره هلک او انجلۍ د دواړو لپاره د بلوغ حکم کیدلای شي که چیرته له دې مخکې د بلوغ نښې نښانې ښکاره شي بیا له هماغه وخته بالغ ګڼلی شي برابره خبره ده چې پنځلس کلونه یې پوره کړي وي او یا نه علامه شامي رحمه الله او ځینو نورو علماء کرامو دا قول مفتي به ګڼلی ده ، خو په عامه توګه هلک له دولس

(۱۲) کلنی مخکې او جینۍ له نهه (۹) کلنۍ مخکې بلوغ ته نه رسیږي او نه هم وربانديې د بلوغ کومه علامه څرګندیږي.

(بُلُوغُ الْغُلَامِ بِالِاحْتِلَامِ وَالْإِحْبَالِ وَالْإِنْزَالِ) وَالْأَصْلُ هُوَ الْإِنْزَالُ (وَالْجَارِيَةِ بِالِاحْتِلَامِ وَالْحَيْضِ وَالْحَبَلِ) وَلَمْ يَذْكُرْ الْإِنْزَالَ صَرِيحًا لِأَنَّهُ قَلَّمَا يُعْلَمُ مِنْهَا (فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ فِيهِمَا) شَيْءٌ (فَحَتَّى يَتِمَّ لِكُلٍّ مِنْهُمَا خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً بِهِ يُفْتَى) لِقِصَرِ أَعْمَارِ أَهْلِ زَمَانِنَا (وَأَدْنَى مُدَّتِهِ لَهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ سَنَةً وَلَهَا تِسْعُ سِنِينَ) هُوَ الْمُخْتَارُ رد المختار (۲۵/۱۶۷)

همدا راز په داسې صورت کې امام ابو حنیفه رحمه الله په اند هلک چې کله اتلس (۱۸) کلونه او انجلۍ چې کله اولس (۱۷) کلونه بشپړ کړي د بلوغ حکم وربانديې کیدلی شي او دا رأیه (۱۸) کلونه د ابن عباس رضي الله عنه هم ده خو ځینو نورو علماء کرامو د بلوغ حد د کلونو په حساب نولس (۱۹) دوه ویشت (۲۲) او پنځه ویشت (۲۵) کلونه هم ټاکلي دي خو علامه عبیدالله بن مسعود (رح) په شرح الوقایه (۷/۱۴) کې امام ابن الهمام (رح) په فتح القدیر (۲۱/۳۰) علامه شیخي زاده (رح) په مجمع الانهر (۴/۶۰) علامه فخر الدین الزیلعي (رح) په تبیین الحقائق(۵/۲۰۳) علامه عبد الله بن محمود ابوالفضل (رح) په الاختیار لتعلیل المختار(۲/۹۵) کې همدا راز ځینې نور علماء کرام وایي : چې احتیاط په دې کې ده چې د یتیم لپاره د اتلس (۱۸) کلونو عمر وټاکل شي .

قَالَ (بُلُوغُ الْغُلَامِ بِالِاحْتِلَامِ وَالْإِحْبَالِ وَالْإِنْزَالِ إذَا وَطِئَ ، فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ ذَلِكَ فَحَتَّى يَتِمَّ لَهُ ثَمَانِي عَشْرَةَ سَنَةً ، وَبُلُوغُ الْجَارِيَةِ بِالْحَيْضِ وَالِاحْتِلَامِ وَالْحَبَلِ ، فَإِنْ لَمْ يُوجَدْ ذَلِكَ فَحَتَّى يَتِمَّ لَهَا سَبْعَ عَشْرَةَ سَنَةً) ، وَهَذَا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ وَقَالَا : إذَا تَمَّ الْغُلَامُ وَالْجَارِيَةُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَقَدْ بَلَغَا...... وَلَهُ قَوْله تَعَالَى { حَتَّى يَبْلُغَ أَشُدَّهُ } وَأَشُدُّ الصَّبِيِّ ثَمَانِي عَشْرَةَ سَنَةً ، هَكَذَا قَالَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ وَتَابَعَهُ الْقُتَبِيُّ ، وَهَذَا أَقَلُّ مَا قِيلَ فِيهِ فَيُبْنَى الْحُكْمُ عَلَيْهِ لِلتَّيَقُّنِ بِهِ .... وَالْحَقُّ فِي أَصْلِ التَّعْلِيلِ أَنْ يُقَالَ : وَهَذَا أَقَلُّ مَا قِيلَ فِيهِ ، فَيُبْنَى الْحُكْمُ عَلَيْهِ لِلِاحْتِيَاطِ كَمَا وَقَعَ فِي الْكَافِي وَالتَّبْيِينِ ، إلَّا أَنَّهُ قَالَ فِي الْكَافِي بَعْدَ قَوْلِهِ لِلِاحْتِيَاطِ : وَلِأَنَّهُ مُتَيَقَّنٌ بِهِ ، وَأَمَّا فِي التَّبْيِينِ فَقَدْ اكْتَفَى بِقَوْلِهِ لِلِاحْتِيَاطِ وَهُوَ الْأَصْوَبُ . فتح القدير (۲۱/۲۹)

د یتیم د کفالت فضیلت

د یتیم موضوع په شریعت کې ډېر زیات ارزښت او اهمیت لري یواځې په قرآن کریم کې الله (ج) دوه ویشت (۲۲) ځایه د یتیم موضوع ذکر کړې او له مسلمانانو څخه یې غوښتنه کړې چې په ناحقه د یتیمانو مالونه مه خورئ، له دوی سره ښې خبرې وکړئ، احسان ورسره وکړئ ،غصه مه وربانديې کوئ او دې ته ورته د دوی اړوند نور ډېر موضوعات یې ذکر کړي، همدا راز رسول الله صلى الله علیه وسلم هم په ډېرو حدیثونو کې د یتیم پالنې د فضیلت اوثواب په باب امت مسلمه ته سپارښتنه کړې چې د یتیم پوره پوره خیال وساتي او ښه سالمه تربیه او کفالت یې وکړي الله (ج) به یې په جنت کې له ماسره یوځای کړي مونږ به دلته د رسول الله صلى الله علیه وسلم د څو حدیثونو په رڼا کې د موضوع وضاحت وکړو.

حدیث:

عَنْ سَهْلٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا. صحيح البخاري (۷/۳۵)

له حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: زه او د يتيم کفالت کوونکی به په جنت کې داسې سره نږدې يو، رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپلو دوو شهادت او منځنۍ ګوتو باندې اشاره وکړه او دواړو ګوتو ترمنځ يې لږ فاصله وکړه.

پورتنۍ صحيح حديث په نورو ډېرو کتابونو کې د متن په لږ شان توپير سره راغلی لکه سنن الترمذي (۳/ ۲۱۵) السنن الكبري ۶/۲۸۳ سنن أبي داود ۵/۶۴ صحيح ابن حبان ۳/۱۹۴ مسند احمد ۵/۳۳۳.

علامه ابن بطال رحمه الله د پورتني حديث په شرحه کې ليکلي: چا چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا حديث واورېده په ده لازمه ده چې عمل ورباندې وکړي ترڅو په جنت کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د انبياء کرامو او رسولانو عليهم السلام ملګری شي. او په اخرت کې د انبياء کرامو عليهم السلام له ملګرتيا غوره مرتبه نشته . حق على كل مؤمن يسمع هذا الحديث أن يرغب فى العمل به ليكون فى الجنة رفيقًا للنبى عليه السلام ولجماعة النبيين والمرسلين - صلوات الله عليهم أجمعين - ولا منزلة عند الله فى الآخرة أفضل من مرافقة الأنبياء. شرح البخاري لابن بطال (۱۸/ ۱۱۱) .

حافظ ابن حجر رحمه الله هم د پورتني حديث په شرحه کې د ده قول راوړی او بيا وايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلو دوه ګوتو په منځ کې لږ شان جداوالی وکړ اشاره دې خبرې ته ده چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د يتيم کفيل او پالونکي ترمنځ به مرتبه کې لږ شان توپير شته لکه څنګه چې د دغو دواړو ګوتو ترمنځ توپير شتون لري.

وفرج بينهما أي بين السبابة والوسطى وفيه إشارة إلى أن بين درجة النبي صلى الله عليه وسلم وكافل اليتيم قدر تفاوت ما بين السبابة والوسطى. فتح الباري لابن حجر (۴/ ۲۲۷)

حافظ ابن حجر رحمه الله دا هم وايي : چې دا احتمال لري چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د يتيم د کفيل او پالونکي مرتبه او درجه به سره نژدې وي لکه څنګه چې د شهادت او منځنۍ ګوتې ترمنځ بله ګوته شتون نه لري او دواړه ګوتې سره نژدې دي. ويكفي في اثبات قرب المنزلة من المنزلة أنه ليس بين الوسطى والسبابة إصبع أخرى. فتح الباري لابن حجر (4/ 228)

او دا خبره ډيرى محدثينو په خپلو کتابونو کې ذکر کړې فيض القدير ۱۱/۱۲۴ تحفة الاحوذي ۱۱/۴۰ عون المعبود: ۱۴/۴۱ شرح الزرقاني ۴/۴۲۹

علامه نووي رحمه الله د پورتني حديث په شرحه کې ليکي: د يتيم کفالت دې ته وايي؛ چې يو څوک د يتيم حاجتونه او ضرورتونه پوره کړي لکه خوراک، څښاک ، جامه، ادب او تربيه کول دي او دغه فضيلت هغه چاته حاصليږي چې له خپل مال څخه او يا د يتيم له مال څخه دده ښه کفالت وکړي.

كافل اليتيم القائم بأموره من نفقة وكسوة وتأديب وتربية وغير ذلك وهذه الفضيلة تحصل

لمن كفله من مال نفسه أو من مال اليتيم . شرح النووي على مسلم (١٨/ ١١٣)

حديث :

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، عَنِ النَّبِيِّ قَالَ :خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ

سنن ابن ماجه (٢/ ١٢١٣) فيض القدير: (٥/٤٤٦) مشكاة المصابيح: (٣/٧٨)

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: په مسلمانانو کې تر ټولو غوره کور هغه دی چې له يتيم سره په کې ښه چلند کيږي او د مسلمانانو په کور کې تر ټولو بد کور هغه دی چې له يتيم سره په کې ناوړه چلند کيږي.

ملا علي قاري رحمه الله دپورتني حديث په شرحه کې ليکي: د تاديب (تربيې) او د قرآن کريم د زده کړې په خاطر د يتيم وهل روا دي، اودا له يتيم سره معنوي احسان کول دي که څه هم په ظاهره ضرر معلوميږي او که د يتيم وهل د زده کړې او يا د تاديب په خاطر نه وي بيا يې وهل ناروا دي.

فإن ضربه للتأديب وتعليم القرآن جائز فهما داخلان في الإحسان معنى وإن كان في الصورة إساءة والعكس عكس . مرقاة المفاتيح (١۴/٢۶٣)-

حديث:

قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : " من مسح رأس يتيم لم يمسحه إلالله كان له بكل شعرة تمر عليها يده حسنات ومن أحسن إلى يتيمة أو يتيم عنده كنت أنا وهو في الجنة كهاتين " وقرن بين اصبعيه . مسند احمد (٩/٣۴) مشكاة المصابيح (٣/٧٨)

له حضرت ابو امامة رضى الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: هر هغه څوک چې د يتيم په سرلاس خاص دالله (ج) لپاره تيرکړي، په هر څومره ويښتانو يې چې دده لاس تير شوی وي، همدومره نيکې ده ته ورکول کيږي، او هر هغه څوک چې يتيم هلک يا انجلۍ د ده سره اوسيږي احسان ورسره وکړي زه او دی به په جنت کې دارنګه يو(رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلې دوه ګوتې سره ملګرې کړې)

که څه هم حافظ ابن حجر رحمه الله په خپل کتاب فتح الباري (١١/١٥١) کې فرمايي: چې دا حديث ضعيف دی . خو د فضائلو په باب کې دا ډول حديث د ډيرى محدثينو په اند مقبول دی مطلب دا چې په ضعيف حديث سره استحباب او هغه کراهت چې په درجه د استحباب کې وي ثابتيدلی شي علامه ابن الهمام رحمه الله فرمايي: چې استحباب په ضعيف سره ثابتيدلی شي نه په موضوعي سره: الاستحباب يثبت بالضعيف غير الموضوع . فتح القدير: ٢/٩۵ او دا رأيه د نورو ډيرو محدثينو هم ده او په خپلو کتابونو کې يې ذکر کړې لکه ملا علي قاري رحمه الله په موضوعات الكبرای(٢٠٩) علامه لکهنوي رحمه الله په ظفرالاماني(١٩٨) علامه ظفر احمد عثماني رحمه الله په قواعد في علوم الحديث(١١٠) او داسې نور.

حديث:

قال رسول الله صلى الله عليه و سلم من عال ثلاثة من الأيتام كان كمن قام ليلة وصام نهاره وغدا وراح شاهرا سيفه في سبيل

الله وكنت أنا وهو في الجنة أخوين كهاتين أختان وألصق إصبعيه السبابة والوسطى. ابن ماجه (۲/ ۱۲۱۳)

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: څوک چې د درېو یتیمانو سرپرستي کوي، داسې دي لکه دشپې چې لمونځونه او د ورځې روژې نیسي او سهار ماښام توره په لاس د الله(ج) په لار کې جهاد کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم دوې ګوتې سره یوځای کړې او وې فرمایل: زه او دیتیم کفالت کوونکی به داسې په جنت کې یو ځای یو.

حدیث:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ : أَنَّ رَجُلاً شَكَا إِلَى النَّبِيِّ -صلى الله عليه وسلم- قَسْوَةَ قَلْبِهِ فَقَالَ :« إِنْ أَرَدْتَ أَنْ يَلِينَ قَلْبُكَ فَأَطْعِمِ الْمَسَاكِينَ وَامْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيمِ.السنن الكبرى(۴/۶۰) مسنداحمد(۲/۲۶۳) فتح الباری: (۵/۲۵۲)

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو کس د زړه له سختوالي شکایت وکړ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: که غواړې چې زړه دي نرم شي، مسکین ته خوراک ورکړه او د یتیم سر مسحه کړه.

علامه یوسف بن عبد الرحمن بن یوسف په خپل کتاب کې د یو عابد په نامه د عميرة بن أبي ناجية د ترجمې په ترڅ کې دده اړوند یوه کیسه هم ذکر کړې ده، فرمايي: چې دی ډیر پرهیزګاره او عابد انسان وو، کله به یې چې تلاوت کاوه ژړل به یې،کله به یې چې لمونځ کاوه ژړل به یې، او کله چې به له تلاوت او لمونځ څخه فارغ شو ژړل به یې،یوه ورځ همدغه صالح او پرهیزګاره بنده یو یتیم راوغوښت ډوډۍ یې ورکړه د څکلو اوبه یې ورکړې او سر یې ورغوړ کړ او بیا یې داسې دعا وکړه: ای زما ربه زما د دې کار په ثواب کې زما مور او پلار راسره شریکان کړې، کله چې اوده شو مور او پلار یې په خوب کې ولیدل، او له دوی سره هغه یتیم ناست وو، مور او پلار یې ده ته داسې وویل: چې ای زویه ددې یتیم پر مونږ باندې ډېر لوی برکتونه دي. تهذیب الکمال: (۲۲/۴۰۱)

دا چې مقاله را څخه نوره اوږده نشي، په پای کې وایم چې الحمد لله د افغانستان اسلامي امارت د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ټول یتیمان هغه که د اسلامي امارت د سپیڅلو شهیدانو یتیمانو وي او که د تیرې ادارې د هغو نظامي عسکرو یتیمان چې د اسلامي امارت له سپیڅلو مجاهدینو سره دا شل کاله په جنګ کې شکیل ول، دوی ووژل شول، او که د ملکي شهیدانو یتیمان وي دا ټول ثبت او راجستر کړي او د ثبت سره سره یې دوی ته یوه اندازه مساعدت (ماهانه) پرته له کوم تبعیضه ټاکلې ده او هر کال د ملي بودیجې څخه په میلیاردونو افغانۍ د بانک له لارې دوی ته ورکول کیږي همدا راز ځینو یتیمانو ته یې دحرفوي زده کړو زمینه هم برابره کړې او دا د حکومت یو لوی ستر او نیک اقدام دی همداراز نور اسلامي هیوادونه، مسلمانان ، نړیوالې مؤسسې ، خیریه بنسټونه، د یتیم کفالت او پالنې ته باید جدي پاملرنه وکړي د هغوی لپاره دې بیلابیلې ادارې رامنځته کړي ، یوڅه اندازه مساعدت (ماهانه) دې ورته وټاکي د دیني عصري او حرفوي زده کړو زمینه دې ورته برابره کړي ترڅو په راتلونکې کې د ټولنې په اوږو بار نشي او الله (ج)به اجرعظیم ور په برخه کړي.

د شهید مولوي احسان الله احسان صاحب ژوند او کارنامو ته کتنه

شهید مولوي احسان الله احسان

شهید مولوي احسان الله احسان د مولوي اغا محمد زوی د مولوي میرزا محمد لمسی په قوم پوپلزای چي اصلي ټاټوبی يي د کندهار ولایت د شاولي کوټ ولسوالی د بوري د علاقې لوی کلي دی په کال ۱۳۸۱ هجري قمري کې د محرم د میاشتي په پنځمه نیټه د زابل ولایت د میزاني ولسوالی د سلیم په کلي کې په یوه متدینه علمي کورنۍ کې زیږیدلی دی.

دشهید مولوي احسان الله نیکه مولوي میرزا محمد صاحب دکندهار ولایت له مشهورو جهادي او علمي شخصیتونو څخه بلل کیږي؛ نوموړي دافغان انګلیس د دوهمي جګړې په مهال دانګریزانو خلاف په ډیرو جګړو کي فعال سهم درلود او د خپل همدغه فعال جهادي مساهمت له امله دکندهار ولایت په سرحدي ولسوالی سپین بولدک کي له انګلیسي پوځونوسره په مخامخ مقابله کي په پښه زخمي شوی ؤ چي له همدي امله د سیمي د خلګو په منځ کي د ګو ډ ملا میرزا محمد په نوم مشهور ؤ.

زدکړه او تحصیل يي:

شهید مولوي احسان الله احسان له وړکوالي څخه د فطري نبوغ او سرشاره علمي ذکاوت خښتن ؤ. نوموړی په یوه متدین علمي خاندان کي زیږیدلی ؤ د پلار په شان يي والده شریفه هم د دیانت او زهد څښتنه وه چي ویل به يي شهید احسان ته مي همیشه په اوداسه شیدي ورکړي دي. د شهید احسان صاحب مور به د نوموړي د ذکاوت په اړه ویل چي له کوچنیوالي د نبوغ او ذکاوت خښتن ؤ د پنځو کلونو ؤ چي آیت الکرسي يي یاده کړي او ماته يي هم را یاد کړه. د شهید احسان والد صاحب له هماغه وړکتوبه څخه د ده علمي اوتربیوي روزني اوپالني ته ډیره توجه کوله. لومړی يي په خپل کور کي په هغه باندي دابتدايي دیني علومو زده کړه پیل کړه او بیا وروسته يي د شرعي علومو دتحصیل لپاره د پاکستان لوړو شرعي مراکزو او مدارسو ته ولیږه.

شهید مولوي احسان الله صاحب خپل لوړ شرعي تحصیلات د دارالهجرت په بیلا بیلو دیني مدارسو کي په ډیر زیار اوکوښښ سره حاصل کړل. د پاکستان د خیبر پښتونخوا له سوات علاقې نیولې بیا د بلوچستان تر مختلفو سیمو لکه میزۍ اډه، پښین، کچلاغ، لور لايي او مرکز کوټه کي يي د خپل وخت له زبده عالمانو او مدرسینو لکه مولوي سعد الدین اخندزاده، مولوي عبدالغفور صاحب، مولوي شرف الدين صاحب، مولوي عنايت الله مشهور په غبرګي اخندزاده، مولوي عبيد الله قندهاري، مولوي ابوالفضل معين الدين صاحب او نورو څخه يي ديني علوم او فنون حاصل کړل تر دي چي د احاديثو تر وړي او لويي دوري پوري ورسيد. وړه دوره يي د کويټي په مشهوره مدرسه جامعه اشرفيه کي له شيخ

الحدیث مولوي عبدالباري او مولوي عبدالحی څخه ولوسته او لویه دوره يې په همدې مدرسه کې له شیخ الحدیث مولوي عبدالغفور صاحب څخه پيل کړه. خو د کال په اوږدو کې شیخ الحدیث مولوي عبد الغفور صاحب وفات شو، نو ځکه يې پاتې سبقونه د کویټې د شالدرې په مدرسه کې له شیخ الحدیث حافظ عبدالواحد صاحب څخه تکمیل کړل او له دیني علومو د فراغت سند یې ترلاسه کړ.

د کمونیزم په خلاف جهاد:

شهید مولوي احسان الله صاحب لا د خپلو دیني تعلیماتو دحصول په ابتدايي مرحله کې ؤ چې په افغانستان کې کمونستانو دیوې پوځي کودتا له لارې دقدرت واګې ترلاسه کړې چې سمدستي يې پرخلاف مؤمنو افغانانو اسلامي جهاد پيل کړ. په دغه مقدس جهاد کې د افغانستان ټول ملت په بیساري میړانې او شهامت سره سهم درلود، خو د هغه د قیادت او د رهبرۍ مسؤلیت د شرعي او مذهبي مکلفیت له مخې تر ډیره دعلماوو په اوږو ورلویدلی ؤ. شهید مولوي احسان الله صاحب هم چې د خپلې سیمې په کچه يې په یوه علمي او جهادي کورنۍ پورې تعلق درلود نوتر بل هر چاپې د روسانو او کمونستانو خلاف جهاد خپل دیني مسؤلیت باله.

نوموړي دهمدغه دیني مسؤلیت له مخې لومړی د زابل ولایت د میزانې ولسوالۍ د شهید مقیم تر مشرۍ لاندې د یرغلګرو روسانوپه ضد جهاد پيل کړ. له هغه وروسته هلمند ولایت ته ولاړ او هلته يې دوه کاله دهماغه ولایت په مختلفوجبهاتو کې د کمونستانو خلاف جهاد وکړ. په هلمند ولایت کې د ببلابیلو جهادي او پوځي تکتیکونو تر لاسه کولو وروسته بیرته زابل ولایت ته راغی او دلته يې دمولوي عبد الظاهر په ملګرتیا د دې ولایت دمیزاني ولسوالۍ په ارغسو غره کې دیوې فعالې جهادي جبهې بنسټ کېښود.

شهید مولوي احسان الله به د خپلې نوي تأسیس شوي جبهې مجاهدینوته د پوځي او عسکري زده کړې ترڅنګ د دعوت په حلقو کې د فکري پوهنې اواسلامي ثقافت درسونه هم ورکول اوهغوی به يې د پوځي زده کړې ترڅنګ په علمي او فکري لحاظ هم دالحاد او بې دینۍ په خلاف جهاد او مبارزې ته چمتو کول.

نوموړي وروسته ډېره توجه د دیني زدکړو تکمیل ته واړوله خو بیا يې هم د خپل توان او فرصت په اندازه په جهادي فریضه کې ونډه اخیسته او د جهادي داعي یو مخکښ داعي او عملي مجاهد ؤ.

د طالبانو په اسلامي تحریک کې شمولیت:

د ۱۴۱۵ هجري قمري کال د محرم الحرام په میاشت کې چې په هیواد کې د جهادي نیمګړو آرمانونو د تحقق لپاره د اسلامي امارت دمشرتابه له لوري دطالبانو اسلامي تحریک تأسیس شو نو شهید مولوي احسان الله صاحب یوله هغو لومړنیو کسانو څخه ؤ چې په خورا اخلاص او صداقت د تحریک دمؤسس ترڅنګ ودرید او په خپلو نه ستړي کېدونکو هلوځلو يې دهغه ملاتړ وکړ. د تحریک د تأسیس په هماغو اوائلو کې چې لا د طالبانو تحریک د میوند او ډنډ ولسوالۍ له حدودو نه ؤ تېر

شوی مولوي احسان الله صاحب نه یوازې عملاً د اسلامي تحریک غړی شو بلکې د خپلې سیمې ټول جهادي قومندانان او عام ولسي خلک یې دې ته وهڅول چې په سوله ییزه توګه له تحریک سره یوځـــای اوله خپلو وسلوسره د طالبانو په لیکوکې په هیواد کې دیوه سوچه شرعي نظام حد اکمیت لپاره قرباني ورکـړي. هـماغـه ؤ چـې د شـهیـد احسـان صاحب د دغــو حکیمـــانه هلوځـلو له برکتـه د سیمې ډېر پخواني جهادي قومندانان او عام خلک دې ته تیار شول چې له تحریک سره یوځای شي. مولوي احسان صاحب د علماء کرامو د هغې شورا غړیتوب هم درلود چې د مرحوم شیخ مولوي عبدالعلي دیوبندي صاحب په مشرۍ یې په بولدک کې ټوپکي قومندانانو ته دعوت ورکړ تر څو له پاټکمارۍ او ظلم زیاتي لاس واخلي او د طالبانو د تحریک داعیه ومني خو دا چې هغو ټوپکیانو له ډېرو دعوتونو سره سره هم خپل ناروا حاکمیت ته دوام ورکاوو نو ځکه طالبانو د شهید ملا محمد آخند په مشرۍ د هغویه ضد عــملیـات وکـــړل او د بولـــدک ساحه یې ترې تصفیه کړه.

د مولوي احسان الله صاحب ستره کارنامه:

د کندهار له فتحې وروسته د ۱۳۷۳ هـ ش کال د جدي د میاشتې په ورستیو کې د طالبانو لښکر له کندهار څخه د زابل په خوا حرکت پیل کړ. مولوي احسان الله احسان صاحب هم د امارت د نورو مشرانو تر څنګ د دې لښکر برخوال ؤ، د زابل په ولایت کې موجوده مجاهدینو او طالبانو د دوی هرکلی وکړ او واک یې په بشـــپړه توګـه وروسپاره. له زابل وروسته همدغه لښکر غزني ولایت ته ورسید. د غزني مرکز ولایت فرقه او نور مهم مراکز په غزني کې یو شمیر خیرخـــواه قومندانانـــو طالبــانو ته وسپارل، خو د غزني په یونټ او روضه سیمو کې د حزب اسلامي او حزب وحدت له ډلو سره جنګ وشو چې وروسته هغوی تیښتې ته اړ او سیمـه مکمــلـه د طالبـانو تـر واک لاندې راغله.

که څه هم د طالبانو د همدې لښکر لویه برخه د میدان وردګو په خوا لاړل او تر میدان ښار، لوګر او چهاراسیاب پورې ورسیدل خو د همدې کال د دلوې د میاشتې په ۲۷ نیټه د طالبانو یوه لویه ډله د مولوي احسان الله احسان صاحب په مشرۍ له غزني د پکتیکا په خوا لاړه. د پکتیکا ولایت ځایي علماء او مشرانو ورته د ولایت واک په بشپړ ډول وسپاره. له همـــدې ځـایه مــولوي احســـان الله احســان صـاحــب د لــوېي پکتـیا لـه جهـادي قومندانانو او مطرحو مشرانو لکه ستر مجاهد مولوي جلال الدین حقاني، ملا عبداللطیف منصور، مولوي فرید الدین محمود او نورو مجاهدینو سره خبرې پیل کړې تردې چې دمولوي احسان صاحب د مدبرانه تګلارې، قوي استـــدلال او قانـــع کوونکو وضاحتونو په نتیجه کې د لویې پکتیا یعني پکتیا، پکتیکا او خوست ولایاتو ټول مجاهدین د اسلامي امارت په واکمنۍ قانع او په پوره اخلاص یې خپل تشکیلات د طالبانو د اسلامي تحریک په صفوفو کې مدغم کړل. چې په دې توګه نه یوازې دغه درې مهم ولایات په مکمل ډول د اسلامي واکمنۍ برخه وګرځیدل بلکه د ځایي

مجاهدینو طالبانو او له هغوی سره د موجودو امکاناتو او وسلو او عام اولسي ملاتړ په مټ اسلامي تحریک نور هم قوي شو چې د دغې پروسې په کامیابۍ کې ډېر رول د مولوي احسان الله احسان صاحب ؤ چې په خپل فصیح او بلیغ استدلال سره يې اسلامي تحریک خلکو ته د یوه واقعي اسلامي او افغاني تحریک په حیث ور معرفي کړ او د هغوی بشپړ قناعت او ملاتړ يې حاصل کړ.

په اسلامي تحریک کې مسؤلیتونه :

مولوي احسان الله احسان صاحب چې د اسلامي تحریک په اوائلو کې يې د جنوب ختیځ زون په ولایاتو کې د طالبانو سرپرستي او مشري په غاړه درلوده د هرات ولایت له فتحې څه موده وروسته د عالیقدر امیرالمؤمنین S په امر د هرات ولایت د والي په حیث وټاکل شو هغه مهال چې هرات ولایت په پوځي لحاظ فتحه شوی ؤ مګر په ذهني لحاظ لا هم ډیر خلک د طالبانو په اړه شکمن ؤ او له همدې امله ډیر خطرات موجود ؤ او همیشه به په ښار او اطرافو کې د طالبانو په خلافت مزاحمت او بریدونه کېدل مولوي احسان الله احسان صاحب په خپلو عالمانه قانع کوونکو ویناوو او مدبرانه برخورد سره په دې وتوانید چې د دې ولایت د خلکو باور او زړونه راخپل او په دې توګه په هرات کې د اسلامي امارت په خلاف موجود مشکلات او مخالفـــتونه له ریـــښې ختم شي.

د ۱۳۷۵ هـ ش کال د حمل په میاشت کې کله چې په کندهار کې د اسلامي امارت د تأسیس غونډه دائره او د طالبانو تحریک د افغانستان په اسلامي امارت سره تبدیل شو. د علماء کرامو په دې عظیم الشانه غونډه کې چې شاوخوا یونیم زر تنه علماء کرامو په کې ګډون کړی ؤ مولوي احسان الله احسان صاحب په کې کلیدي رول درلود د غونډې په جریان کې مولوي احسان الله صاحب دغې شورا ته د ملا محمد عمر مجاهد لپاره د امیرالمؤمنین لقب عرض کړ چې د شورا لخوا د رایو په اتفاق سره تصویب او له کلونو وروسته یو ځل بیا دغه نوم د اسلامي سیاست په قاموس کې راژوندی شو. د همدې کال د میزان په میاشت کې چې طالبانو د کابل د فتحې عملیات پیل کړل د افغانستان د ختیځ د فتوحاتو په سلسله کې مولوي احسان الله احسان صاحب لومړی د ننګرهار ولایت د والي په حیث وټاکل شو خو وروسته چې کابل فتحه شو نوموړی د اسلامي امارت د لومړنۍ کابینې د تعیین په مهال د افغانستان بانک دلوی رئیس په حیث وټاکل شو.

د ۱۳۷٦ هـ ش کال د جوزا د میاشتې په لومړیو کې چې طالبانو په شمال ولایاتو کې له جنرال مالک سره ناکامه موافقه وکړه چې په لړ کې يې د لندو ورځو لپاره د فاریاب، جوزجان سرپل او بلخ ولایاتو ته طالبان ورداخل شول مولوي احسان الله احسان صاحب د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په امر له څو تنو نورو امارتي مشرانو سره مزار شریف ته لاړ تر څو هلته د وضعیت په برقرارۍ کې همکاري وکړي. خو له موافقې دوه ورځې بعد جنرال مالک اړخ بدل کړ او له حزب وحدت سره د شریکې دسیسې په پایله کې يې د طالبانو په خلاف غدارانه اقدام وکړ چې په نتیجه کې يې په زرګونو په پاک نیت ورغلي طالبان په شهادت ورسید

چې له دې جملې د امارت خو تنه زبده مشران من جمله مولوي احسان الله احسان صاحب هم ؤ.

د شهيد مولوي احسان الله احسان صاحب د شهادت واقعه :

دلته به د شهيد مولوي احسان الله احسان صاحب د شهادت واقعه د نوموړي د ورور مولوي عبدالغني احسان صاحب له قوله درسره شريکه کړو چې د دې پيښې عيني شاهد پاته شوی دی. نوموړی وايي: د ۱۳۷٦ هجري شمسي کال د جوزا په پيل کې زه کابل ته د مولوي احسان الله صاحب د ليدلو لپاره لاړم، خو هلته مې دی ونه ليد ځکه پاکستان ته يې سفر کړی ؤ تر څو د مزار له سقوط وروسته پاکستان هيواد د افغانستان د اسلامي امارت په رسميت پيژندلو ته وهڅوي چې په اسلام آباد کې د اسلامي امارت د هغه وخت د سفير مولوي شهاب الدين دلاور صاحب په خبره پاکستان هيواد بالاخره همدې ته تيار هم شو او د جوزا د مياشتې په څلورمه نيټه يعني د مزار له تحول سمدستي وروسته يې اســلامي امارت د افغان ســتان د رسـمي حکومت په حيث په رسميت و پيژاند چې په تعقيب يې سعودي عربستان او عربي متـحـده امارتو هم اسلامي امارت په رسميت و پيژاند.

مولوي عبد الغني صاحب زياتوي: زه بيا کندهار ته راغلم او مولوي احسان صاحب هم له پاکستان څخه کندهار ته او له هغه ځايه د اسلامي امارت د بهرنيو چارو د وزير ملا محمد غوث او څو نورو مشرانو په ملګرتيا مزار ته لاړل. زه هم د دوی په تعقيب په الوتکه کې شبرغان او له هغه ځايه مزار شريف ته لاړم په مزار کې د ښار د امنيت لپاره د طالبانو او جنرال مالک تر منځ ګډ پلان جوړ شو چې شپږ اعضاء يې درلودل د طالبانو لخوا د فارياب والي سيد جانان آغا د هرات امنيه قومندان ملا عبدالحق او زه ؤ او د جنبش لخوا شير عرب، جنرال مجيد روزي او مـولوي عثمان ؤ.

يوه ورځ چې تيره شوه په ښار کې جنګ شروع شو سره له دې چې جنګ جنرال مالک شروع کړی ؤ خو موږ ته يې ويل چې ادا د حزب وحدت کسانو شروع کړی دی. مازديګر جنګ شروع شو تر سهار پورې د سهار په وخت کې ډير طالبان څوک د شبرغان خواته او څوک د سيلو خواته له مزار ښار نه ووتل په همدې ورځ سهار اته بجې چې د ۱۳۷٦ لمريز کال د جوزا د مياشتې ۷ مه نيټه وه زه د روضې شريفې له مسجد سره ولاړ وم چې په جيپ موټر کې خو طالبان راغلل او راته ويې ويل چې مولوي احسان الله صاحب او نور ملګري د مخابراتو په رياست کې دي ما په ډير تکليف ځان ورورساوو. هلته مولوي احسان الله صاحب ملا محمد غوث آخند او په کندهار کې د امارت د خارجه چارو رئيس حاجي فضل محمد موجود ؤ بيا له دې ځايه له نورو طالبانو سره يوځای په موټرو کې سپاره شو د سيلو سره نږدې يې د ملا محمد غوث اخند موټر وويشت بيا مو هغه په بل موټر کې سپور کړ او په مخ مو حرکت وکړ. د تنګي شاديان په نوم سيمې ته چې ورسيدو په مخکې د چارکنت د ولسوالۍ د هزاره ګانو د مشر سيد اسد نفر ولاړ ؤ. هغوی زموږ لاره بنده کړه او زموږ د خلع سلاح کولو لپاره يې لاس واچاوو

بالاخره همدلته له هغوی سره خبره تر جنګ ورسیده او ټکان شروع شول. دغه وخت به د ورځې تقریبا لس بجې وې همدلته په جنګ کې مولوي احسان الله صاحب ولګېد او وغورځېد موږ د غره په خوا حرکات وکړ، همدا شپه موږ په غره کې شوه سهار د لوړې او تندې څخه د هلاکیدو له امله بیرته کلي ته راکوز شو هزارګانو له ټولو څخه پیسې ساعتونه او قیمتي شیان واخیستل او موږ یې بندیان کړو.

بیا یې بندیان خو ځایه سره جلا کړو زه چې د کومو بندیانو په ډله کې وم شپیته کسان ؤ موږ یې مزار شریف ته یووړو خلور ورځې بعد یې بیرته همدلته په تنګۍ شادیان کې د حزب وحدت یوې قرارګاه ته راوړو پنځه ورځې بعد یې موږ لس کسان را وایستو تر څو هغه شهیدان را بانديې راټول کړي چې همدلته دوی شهیدان کړي ؤ.

په دې ورځ موږ پنځه خلویښت شهیدان چې تراوسه په لاره شاوخوا پراته ؤ او څو ورځې وربانديې تیرې شوې راټول او دفن مو کړل په دوی کې مې خپل ورور مولوي احسان الله احسان صاحب و پيژاند او له نورو شهیدانو مې جلا دفن کړ. بیا چې کله مزار شریف او ټول سمت شمال دوهم وار فتحه شو د مولوي احسان الله صاحب جسد له هماغه قبر څخه کندهار ته را انتقال او د کندهار ښار په لویه ویاله کې د طالبانو په هدیره کې دفن شو چې په دغه هدیره کې د مشرانو د قبرونو له جملې د مشرق لخوا لومړی قبر د شهید ملامحمد آخند وروسته شهید ملا بورجان آخند، وروسته شهيد مولوي احسان الله احسان صاحب وروسته شهید ملا یار محمد آخند او د سر خواته یې د رئیس الوزرا مرحوم ملا محمد رباني صاحب رحمهم الله تعالی قبر دی. باید وواېو چې د شمال په همدې ستره غمیزه کې د مولوي احسان صاحب یو بل ورور مولوي ولی الله صاحب هم شهید شو نو موږ چې د میمنې لخوا له طالبانو سره راغلی و د جنرال مالک کسانو د زرګونو نورو طالبانو په شان له نیولو وروسته د جوزجان د فیض آباد ولسوالی په دشت لیلي کې په ژورو خاګانو کې په شهادت رسولی ؤ.

انا لله و انا الیه راجعون

مأخذ: د سپین کاروان سرلاري.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند د هیواد شمالي ولایتونو ته سفر وکړ

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند چې د هېواد شمالي ولایتونو ته سفر کړی وو، په بغلان، سمنګان، کندز، تخار او بدخشان ولایتونو کې د یاد وزارت اړوند ریاستونو د کاري بهیر او همداراز یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د خدمتونو د وړاندې کولو د څرنګوالي څخه هر اړخیزه ارزونه ترسره کړه. محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند یادو ولایتونو کې د وزارت اړوند ولایتي مسؤلینو او کارکوونکو سره په کتنه کې وویل: د شهیدانو او معلولینو قربانیو په برکت په هېواد کې اسلامي نظام حاکم شوی، د همغوی د قربانیو په برکت موږ نن ورځ د اسلامي نظام تر چتر لاندې ژوند کوو، د افغانستان اسلامي امارت په ځانګړې توګه د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د شهیدانو ورثه ؤ او معلولینو تر څنګ ولاړ دی او له همغوی څخه هر اړخیز ملاتړ کوي".

محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند همداراز زیاته کړه:" زموږ هڅه دا ده چې د شهیدانو د وارثینو او معلولین و پر وړاندې شته ستونزو او ننګونو ته په بشپړه توګه رسیدګي وشي او اسلامي امارت دوی ته د پر وخت خدمتونو د وړاندې کولو او آسان تیاوو رامنځته کولو کلک هوډ لري."
همدارنګه سرپرست وزیر وویل: "همغه حقوق او نغدي مرستې چې د اسلامي امارت لخوا د یتیمانو، کونډو او معلولینو لپاره ټاکل شوې دي، هغه باید پرته له هر ډول درغلی او سرغړونې څخه مستحقو کسانو ته ورسول شي."

محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند د دې سفرونو په لړ کې د شهیدانو له ځینو کورنیو او معلولیت لرونکو وګړو سره په کتنه کې وویل: اسلامي امارت او په ځانګړې ډول د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د غوره خدمتونو په وړاندې کولو کې ژمن دی او د همغوی څخه هر اړخیز ملاتړ کوي.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سرپرست وزیر همداراز یتیمانو او معلولینو ته د خدمتونو وړاندې کول یو لوی او مهم مسؤلیت وباله او د یادو ریاستونو له مسؤلینو او کارکوونکو څخه یې وغوښتل تر څو په ورسپارل شویو دندو کې له پوره اخلاص څخه کار واخلي او په دې برخه کې دې هیڅ ډول بې غوري نه کوي.

د دې سفرونو په ترڅ کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دفتر رئیس محترم قاري شاه محمد دوست د سرپرست وزیر د سفرونو اصلي موخه یادو ولایتونو ته د یاد وزارت اړوند ریاستونو د کاري بهیر څخه لیدنه او همداراز یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د میاشتنۍ نغدي مساعدتونو د ورکړې د څرنګوالي ارزونه یاده کړه.

نومـوړي همـــداراز زیــاته کړه: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت په دې هڅه کې دی تر څو د شهیدانو ورثه ؤ او معلولینــو تــه پــر وخــت خدمتونه وړاندې کړي اوهغوی ته په بیلابیلو برخو کې د ځان بساینې په موخه د کــاري فرصــتونو زمینــه برابره کړي.

د شهیـــدانو او معلـــولینو چـــارو سرپرست وزیــر پــه دې ســفرونــو کې په یادو ولایتونو کې د شهیدانو له یو شمېر وارثینو او معلولینو سره له نږدې وکتل، د هغوی ستونزې یې واورېدې او له هغوی سره یې یوه اندازه نغدي مرسته هم ترسره کړه.

د شهیدانو او معلولینو چارو سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند په خپل کاري دفتر کې په قطر کې د افغانستان اسلامي امارت د سیاسي دفتر له رئیس محترم سهیل شاهین سره وکتل

په دې کتنه کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دفتر رئیس محترم قاري شاه محمد دوست، د بشري سرچینو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي، د مالي او حسابي چارو رئیس محترم قاري محمد امین درویش، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس محترم مفتي فیصل خاموش او همداراز د بهرنیو اړیکو او پلان رئیس محترم ملا صدوخان حق شناس حضور درلود.

په پیل کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند په هیواد کې د اسلامي امارت واکمنیدل د الله جل جلاله یو لوی نصرت او احسان وباله او زیاته یې کړه: اسلامي نظام په هېواد کې د شهیدانو او معلولینو په قربانیو رامنځته شوی دی.

محترم وزیر صاحب په قطر هېواد کې د افغانستان اسلامي امارت د سیاسي دفتر له رئیس څخه وغوښتل تر څو د دې اړمن او مظلوم قشر(یتیمانو، کونډو او معلولینو) غږ تر خیریه بنسټونو او مؤسسو ورسوي او هغوی ته د لازیاتو مرستو چمتوکولو زمینه برابره شي.

په ورته وخت کې په قطر هېواد کې د افغانستان اسلامي امارت د سیاسي دفتر رئیس محترم سهیل شاهین وویل: "موږ تل هڅه کړې ده چې د معلولینو او یتیمانو غږ د قطر هېواد خیریه بنسټونو او همدارنګه په یاد هېواد کې نورو خیریه مؤسسو ته ورسوو".

نوموړي همداراز داډ ورکړ چې د معلولینو او یتیمانو پر وړاندې شته ستونزې او ننګونې به په قطر هېواد کې د خیریه بنسټونو سره شریکې کړي او د شهیدانو کورنۍ او معلولین به له پامه ونه غورځوي.

سنگ تهداب یک محراب مسجد توسط محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند سرپرست وزارت امور شهدا و معلولین طی مراسم در محوطه این وزارت گذاشته شد

هغه همدا راز زیاته کړه: د یتیمانو، کونډو او معلولینو د معلوماتو د ثبت په پروسه کې هیڅ ډول بې غوري، جعل او تزویر د منلو او بخښنې وړ نه دی او باید دغه معلومات د شهیدانو او معلولینو وزارت د پلان او طرزالعمل سره سم په سیستم کې درج کړل شي تر څو دغه امانت په سمه بڼه حقیقي مستحقینو ته ورسول شي.

همدارز محترم شیخ صاحب د یاد ورکشاپ له ګډونوالو وغوښتل تر څو خپل سیرت او صورت د اسلامي شریعت مطابق برابر کړي.

په دې پروګرام کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مالي او اداري چارو عمومي رئیس ښاغلي مولوي کلیم الله افغان خبرې وکړې او زیاته یې کړه: د شهیدانو او معلولینو چار وزارت د یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د میاشتنۍ نغدي مرستو د ورکړې په طرزالعمل کې ټول اړخونه او جوانب په پام کې نیولي دي او په دې طرزالعمل کې د مشرانو دسخاوتمندی

او شفقت له مخې ضعیف قشر ته ځانګړې پاملرنه شوې ده او د هغه له مخې ټولو مستحقو یتیمانو، کونډو او معلولینو ته میاشتنۍ نغدي مساعدتونه پرته له هر ډول توپیر ورکول کیږي.

نوموړي همداراز د یاد ورکشاپ د جوړیدو له امله د ډیټابیس او معلوماتو ریاست څخه مننه وکړه او د دغه ورکشاپ له ګډونوالو یې وغوښتل چې د چارو په ښه توګه پرمختګ ورلو کې له خپلو تجربو او زده کړو څخه پوره ګټه پورته کړي.

وروسته د دغه وزارت د بشري سرچینو رئیس ښاغلي مولوي محمد موسی صدیقي په ډیټابیس کې د معلوماتو د ثبتولو د څرنګوالي په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه: د یتیمانو، کونډو او معلولینو ټول معلومات باید په ریښتیني بڼه په سیستم کې ثبت شي، هغه همداراز د دې ورکشاپ له ګډونوالو څخه وغوښتل چې په پوره ایمانداری او اخلاص سره ورسپارل شوې دندې ترسره کړي، نوموړي هغوی ته په چارو کې د بریالیتوب هیله څرګنده کړه.

دغه راز د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس ښاغلي مفتي فیصل خاموش هم خبرې وکړې او زیاته یې کړه: په نوي الکټرونیکي سیستم کې تر دې دمه دري نوي زره (۹۳۰۰۰) تنه معلولین او یتیمان ثبت شوي دي، چې د یاد شوي شمېر له جملې څخه دوه پنځوس زره (۵۲۰۰۰) تنه معلولین او یو څلویښت زره (۴۱۰۰۰) تنه یتیمان دي.

د یادولو وړ ده چې یاد روزنیز ورکشاپ د دې وزارت د ډیټابیس او معلوماتو ریاست لخوا د پکتیا، پکتیکا، کنړ، کاپیسا، بامیان، پنجشیر، پروان او نورستان ولایتونو څلورویشت (۲۴) تنو کارکوونکو ته د نوي الکټرونیکي سیستم د زده کړې په موخه په لاره اچول شوی وو او دوی ته د دریو ورځو په ترځ کې مسلکي زده کړې ورکړل شوې چې یاد کسان به دا سیستم په خپلو ولایتونو کې پلی کړي.

د شهيدانو او معلولينو چارو په وزارت کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د اداري له خوا د اداري چارو د ساده کولو پروسه چې څه موده وړاندې په لاره اچول شوې وه، له بياکتنې، ساده کولو او مستند کولو وروسته بشپړه شوه

په هغه پروګرام کې چې په همدې موخه د شهيدانو او معلولينو چارو په وزارت کې جوړ شوی وو، په هغې کې د مالي او اداري چارو عمومي رئيس ښاغلي مولوي کليم الله افغان، د بشري سرچينو رئيس ښاغلي محمد موسی صديقي، د شهيدانو چارو رئيس ښاغـلي مولـوي روح الله نصـرت، د معـلولينو چارو رئيس ښاغلي قاري عبدالکريم حليمي، د اداري خدمتونو رئيس ښاغلي مولوي سردار محمد حبيب، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رئيـس ښـاغلي مفتي فيصل خاموش، د ټولنيزو خدمتونو د تنظيـم رئيـس ښاغلي مولوي ثناءالله فرقاني، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د اداري، د اداري پروسو د تحليل او څېړنې آمر ښاغلي سيد نصرت الله سادات او د ياد وزارت د اړوندو څانګو آمرينو ګډون کړی وو.

په دې پروګرام کې د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت د مالي او اداري چارو عمومي رئيس ښاغلي مولوي کليم الله افغان د اداري چارو د ساده کولو د پروسې د اهميت په اړه خبرې وکړې او زياته يې کړه: د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت کارکوونکو يې له شکه خپلې دندې په پوره اخلاص او ايمانداری سرته رسولي دي او دا پروسه په دې هيـواد کې د شـته شرايطو په پام کې نيولو سره بايد په هراړخيز ډول تطبيق شي تر څو د هغې په رڼا کې اړوند ادارو، اداري پروسې رالنډې او چارې په سمه توګه مديريت او معياري خدمتونه په پر خپل وخت وړاندې شي.

نوموړي په دې برخه کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د اداري له ټيم څخه مننه وکړه او له هغوی يې وغوښتل چې په دې برخه کې له پوره جرئت څخه کار واخلي او د اسلامي امارت د ښيرازۍ او پرمختګ په لاره کې له هيڅ راز هلوځلو څخه ډډه ونه کړي.

په دې پروګرام کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د اداري، د اداري پروسو د تحليل او څـېړنو آمـر ښــاغلي سيـد نصرت الله سادات په دې وزارت کې د اداري چارو د ساده کولو د پروسې د تطبيق څرنګوالی په هر اړخيزه ډول تشريح کړاو زياته يې کړه: په دې موده کې د دغه وزارت په اوو مرکزي رياستونو او دوو ولايتي

ریاستونو کې څلور اویا (۷۴) اداري پروسې وځیړل شوې، چې د هغې په ترځ کې هغو پروسو چې ساده کولو ته یې اړتیا درلوده ساده شوې او هغه پروسې چې ساده کولو ته یې اړتیا نه درلوده مستند شوې چې د دې پروسې د تطبیق په ترځ کې د اړوندو څانګو د رئیسانو او مدیرانو دندې او فعالیتونه په هراړخیز ډول څېړل شوي دي.

همدارنګه د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د بشري سرچینو رئیس ښاغلي مولوي محمد موسی صدیقي هم د دې پروسې په اړه خبرې وکړې او زیاته یې کړه: په دې موده کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت توانېدلی چې د کارکوونکو د استخدام په پروسه کې او همدارنګه د یتیمانو، کونډو او معلولینو په تثبیت کې اسانتیاوې رامنځته کړي.

نوموړي دغه راز د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د اداري له ټیم څخه مننه وکړه او د دې پروسې په تطبیق کې یې د بشپړې همکارۍ ژمنه وکړه.

د یادولو وړ ده چې یادې پروسې په ترځ کې د شهیدانو چارو ریاست، د معلولینو چارو ریاست، د معلولینو د توانبخشۍ ریاست، د څارنې او ارزونې ریاست، د ټولنیزو خدمتونو د تنظیم ریاست، د شهیدانو ورثو او معلولینو د پالنې مرکز ریاست، د بشري سرچینو ریاست او د کابل او کاپیسا ولایتونو د شهیدانو او معلولینو چارو ریاستونه په هراړخیز ډول د ساده کولو پروسې تر بیاکتنې لاندې راغلي چې په تطبیق سره به یې په اداري چارو کې روڼتیا رامنځته شي او اداري چارې به په سمه توګه مدیریت او معیاري خدمتونه به پر وخت او په شفاف ډول وړاندې شي.

معلولیت او د معلول د ورتیاوو پیژندنه

معلول او معذور کسان د ټولنې اعضا دي او د ټولنې په روغو کسانو زيات حقوق لري په معذوریت او معلولیت باندې صبر کول په کار دی. په چا باندې چې الله تعالی امتحان راوستی وي چې دهغه د وجود کوم غړی معذور او یا معلول وي، باید چې په دی امتحان باندې صبر وکړي ترڅو لوی اجر يې په برخه شي ځکه د الله جل جلاله په قضاء باندې رضا د ایمان برخه ده او تل داسې فکر وکړئ چې دا هر څه دالله تعالی له لوري دي.

په معذوریت او معلولیت باندې د صبر څخه مراد دا دی چې د الله تعالی په قضاء ځان راضي وګڼي او مخلوق ته د خپل تکلیف په اړه شکایت ونه کړي او د خپل توان په اندازه د الله تعالی عبادت وکړي او د سوالګرۍ څخه ځان وساتي.

داسلام په ځلانده تاریخ کې مونږ داسې نمونې لرو چې دعلم، تقوا، لوی لوی مجتهدین او امامان وو او په دین کې زمونږ رهبران دي او د دې امت لپاره يې نه هیریدونکې خدمتونه ترسره کړي دي چې یاد يې تر ننه پورې د تاریخ په زرینو پاڼو کې راپاتې دی او د لویو لویو مرتبو څښتنان معذورین او معلولین وو.

معلولیت څه ته وايي؟

د معلـول او معـلولـیت د پیژنـدن ې په اړه بیلابیل تعریفونه موجود دي چې مونږ يې دلته ځینې تعریفونه رانقلوو:

معلول هغه وګړي ته ویل کیږي چې د خپل جسمي یا فزیکي ژوند په تدبیر کې د بل چا مرستې ته اړ وي په ټولنه کې په خپلو پښو د درېدو پوره وس نه لري، د خپلې ټولنې د نورو غړو په خیر کار او فعالیت نه شي کولای او په ټولنیزو اړیکو کې د مشارکت او د خپل ژوندانه اړتیاوو په پوره کولو کې مطلوب توان نه لري.

معلولیت هغه اوږدمهاله فزیکي عارضه ده چې یو شخص د هغې په سبب له نورو وګړو سره په برابرو شرایطو کې خپل کامل او موثر مشارکت او ګډون په کلي یا قسمي توګه له لاسه ورکړی وي.

په بل عبارت: معلول عبارت له هغه شخص څخه دی چې د ځینو عواملو له امله يې په فزیکي وړتیا کې کمښت راغلی وي او یا يې د کار توان له لاسه ورکړی وي.

همدارنګه نړیوال صحي سازمان (WHO) معلولیت په لاندې ډول تعریف کوي:

”هر ډول نیمګړتیا یا د وړتیا نشتوالی چې د یو اختلال له امله رامنځته کیږي او د یو شخص فعالیت محدودوي ترڅو د عادي خلکو په

خیر یو څه ترسره نه کړای شي یا د هغه د فعالیت حد د نورمال حالت څخه بهر کړي، معلولیت بلل کیږي".

د اسلام سپیڅلي دین د معنوي او مادي اړخه معلولینو ته پوره پاملرنه کړې او حکم یې کړی چې معلول باید کم ونه شمیرل شي، په موجودیت یې ستړګې پټې نه شي بلکه ښایي داسې احساس ورکړل شي چې هغه د ټولنې د نورو غړیو په څیر محترم غړی دی.

د اسلام له نظره د بدن د کوم غړي او یا دماغ د نقصان او کمزورۍ په هیڅ توګه عیب نه دی، ځکه چې د خپل بدن کوم غړی یا عقلي ځواک، ادراک او ذکاوت له لاسه ورکړی وي معنی یې دا نه شي کیدای چې د هغه انساني صفت، حیثیت او مقام د ورسره کم شوی وي، ځکه معلولیت صرف او صرف یو ډول ازمیښت او ابتلا ده چې الله تعالی معلول، کورنۍ او ټولنه پرې آزمايي که معلول صبر وکړي، الله تعالی یې د دې کمۍ په بدل کې لوی اجر او ستره بدله ورکوي؛ په یوه قدسي حدیث کې چې انس بن مالک رضي الله عنه روایت کړی راځي : (إن الله يقول إذا أخذت كريمتي عبدي في الدنيا لم يكن له جزاء عندي إلا الجنة) سنن الترمذي ۲۴۰۰. ژباړه: الله تعالی فرمايي: که په دنیا کې مې د کوم بنده سترګې ورنه واخیستې(د لیدو له نعمته مې محروم کړ) د هغه لپاره زما په وړاندې له جنت پرته بله بدله نشته.

که څه هم معلولین پوري رامحدوده کړو، نو ویلی شو چې په شریعت کې د هر تکلیفي حکم شروط درې دي؛ علم، قدرت او مکان، له همدې امله لیونی او ماشوم د شریعت له مخې مکلف نه بلل کیږي، په ړانده او ناروغ جهاد نشته، د اوبو له استعمال نه عاجز، د اوبو په استعمال او له دریدو نه ناتوانه او په لمانځه کې په قیام مکلف نه دي.

که دا موضوع لږ په تفصیل سره وڅیړو نو ویلی شو چې اسلام د معلولینو پالنې ته ډیر ارزښت ورکړی دی او د ژوند په هر پړاو او هر ډګر کې یې د دې کسانو د پالنې په هکله غوره لارښوونې کړې دي.

سالم او معلول خلک دواړه ډلې په ازمیښت کې دي، د سالم او روغ انسان څخه به د هغه د روغو اندامونو په اړه پوښتنه کیږي هغه په صحت ازمایل کیږي؛ لکه چې په حدیث شریف کې راځي: (كُلُّ سُلَامَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ). متفق عليه ترجمه: په هر غړي د خلکو باندې صدقه ده. روغ او سالم انسان باید د هر غړي صدقه اداء کړي چې دا هم دده په حق کې امتحان دی.

همدا راز معلول شخص د معلول غړي په وجه په ازمیښت کې دی او په صبر ازمایل کیږي. الله جل جلاله فرمايي: {وَبَلَوْنَاهُمْ بِالْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ} الاعراف: (۱۶۸) ترجمه: او وه ازمایل مونږ دوی په نیکیو (نعمتونو لکه صحت، غناء) او په بدیو (زحمتونو لکه مرض فقر) ښايي چې دوی وګرځي (الله تعالی).

په یو بل آیت کریمه کې راځي: {وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً} [الأنبياء: ۳۵] ترجمه: او ازمایو مونږ تاسې (په دنیا کې) په شر بدی او په خیر نیکی سره په ازموینه.

دا ډیر د خوښۍ ځای دی چې دافغانستان اسلامي امارت د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت تر چتر

لاندې تقریباً د شپږ لکه او څوارلس زره نه سوه او لس یتیمانو، کونډو او معلولینو سرپرستي کوي چې د هغې له جملې څخه باندې یو لک او پنځه اویا زره اوه سوه یو اویا تنه معلولین دي او د هغوی سره دکال په جریان کې مالي مرسته کیږي او ورته میاشتنی نغدي مرستې ورکول کیږي پرته له دې چې د اسلامي امارت د یتیمانو، کونډو او معلولینو او همدارازد تیرې اداري د یتیمانو، کونډو او معلولینو ترمنځ کوم توپیر موجود وي. پر دې علاوه باید چې اسلامي نظام معذورینو او معلولینو ته ارزښت ورکړي او په نظام کې یې له ځانه سره شریک کړي او باید دوی تجرید نشي خصوصا هغه مجاهدین چې په مقدس جهاد کې یې لاسونه، پښې او سترګې له لاسه ورکړي دي. په کارده چې هغو کسانو ته چې معلولیت یې کم وي او د دندې کولو ظرفیت ولري د هغوی د توان او تجربې سره مناسبې دندې ورکړل شي او که د دندې توانایي ونه لري د هغوی لپاره کاري فرصتونه رامنځ ته شي؛ ترڅو چې هغوی د تنهايي او تجرید احساس ونه کړي.

معذورین او معلولین د مجاهدینو سره په اجر کې مساوي دي. عنْ أنسِ بنِ مالكٍ رضيَ اللّٰهُ عنهُ أنَّ رسولَ اللّٰهِ صلَّى اللّٰه عليهِ وسلَّمَ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ فَدَنا من المدينةِ، فقالَ: إنَّ بالمدينةِ أقواماً، ما سِرْتُمْ مَسِيراً، ولا قَطَعْتُمْ وادياً إلا كانوا مَعَكُمْ، قالوا: يا رسولَ اللّٰهِ، وهُمْ بالمدينةِ؟ قالَ: وهُمْ بالمدينةِ، حَبَسَهُمُ العُذْرُ) رواه البخاري. ترجمه:- د انس ابن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د غزوه تبوک څخه را وګرځیده او مدینې منورې ته نږدې شو ویې فرمایل: بیشکه په مدینه منوره کې داسې خلک دي چې له تاسې سره یې هیڅ لاره نه ده وهلې او کوم خوړ مو نه دی وهلی؛ مګر هغوی له تاسو سره ؤ (شریک په اجرکې)، ویې ویل: یارسول الله! هغوی خو په مدینه منوره کې ؤ؟ پیغمبر علیه السلام وفرمایل:هو! هغوی په مدینه منوره کې وو، بندکړي ؤ دوی لره عذر(په جهاد کې د تللوڅخه) د معذورینو او معلولینو سره مرسته کول او سمې لارې ته رهنمايي کول، لويه صدقه ده او دمعذورينو د سمې لارې څخه

بې لارې کول لویه ګناه ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (وإرْشَادُكَ الرَّجُلَ فِي أَرْضِ الضَّلَالَةِ لَكَ صَدَقَةٌ، وبَصَرُكَ للرَّجُلِ الرَّدِيءِ الْبَصَرِ لَكَ صَدَقَةٌ) [ابن حبان]. ترجمه: او لار ښوول ستا، سړي ته په ورکه ځمکه کې ستا لپاره صدقه ده او لاره ښوول هغه سړي ته چې نظر يې کمزوری دی ستا لپاره صدقه ده.
په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مالك رضي الله عنه قال سَمِعتُ النَّبِي صلى الله عليه وسلم يقول إن الله قَالَ إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ) صحيح البخاري
ترجمه: د انس ابن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايي چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې ویې فرمایل. الله تعالی فرمايي کله چې زه خپل بنده په دواړو سترګو په ړوندوالي مبتلا کړم او وربانديې صبر وکړ، ده ته به د دې دواړو په بدل کې جنت ورکړم.
د عروه بن زبیر بن عوام رحمه الله

واقعه:

عروه بن زبیر بن عوام رحمه الله چې جلیل القدر تابعي ؤ عبدالملک بن مروان لیدو لپاره روان ؤ او په پښه يې خوراکي دانه وه کله چې عبدالملک بن مروان د ملاقات وخت را نږدې شو د پښې خوراکي دانه يې زياته شوه او ټولې پښې ته يې سرايت وکړ. طبيب ورته وويل: د پښې د قطع کولو څخه پرته بله چاره نلرو. عروه بن زبير رح وويل: څرنګه به يې قطع کړئ؟ طبيب وويل تاسو به شراب وڅښئ ترڅو د پښې د قطع کولو په درد پوه نشې.

حضرت عروه رح ورته وويل: زه داسې نه کوم، زه داسې نشم کولای چې د امتحان پر وخت شراب وڅښم چې امتحان په لحظه کې د حرامو مرتکب شم او زه داسې مسلمان نه پيژنم چې په هغه داسې حالت راشي چې د خپل رب څخه غافل شي. داسې وکړئ چې کله زه په لمانځه ودریږم په دې حالت کې تاسې کولای شئ چې پښه را څخه قطع کړئ. همداسې وشو کله چې حضرت عـروه رح په لمـانځه ودريده طبيب ورڅخه پښه قطع کړه او هغه وربانديې پوه نشو. د عروه رح څلور زامن ؤ ، د پښې د قطع کيدو څخه يو څو ورځې وروسته مشر زوی يې آس ووهلو او مړ شو دا خبر چې ورته راورسيده داسې يې وويل: ای الله له څلورو څخه دی يو واخيست او درې راته پاتې شول او دڅلورو اندامونو څخه دی يو واخيست او درې را پاتې شو او داسې يې وويل: (اللهم لك الحمد، كان لي أطراف أربعة فأخذت واحدا، فلئن كنت أخذت فقد أبقيت، وإن كنت قد ابليت فلطالما عافيت، فلك الحمد على ما أخذت وعلى ما عافيت} [البدايه والنهايه: ج ٩ - ص ١٠٢] .

همدا راز معذورو او معلول کسانو ته په کاردي چې د ابو قلابه رحمه الله په خير صابره اوسي. ابو قلابه رحمه الله چې د انس بن مالک رضی الله عنه او ګڼو صحابه کرامو څخه يې زيات احاديث روايت کړي دي په دواړو سترګو ړوند ؤ ، په دواړو پښو ګوډ ؤ او په دواړو لاسونو معذور ؤ، خو عبدالله بن محمد وايي چې ماکله هغه وليده داسې دعاء يې کوله : (اللهم أوزعني أن أحمدك حمدا أكافىء به شكر نعمتك التي أنعمت بها على وفضلتني على كثير ممن تفضيلا) ما ورڅخه پوښتنه وکړه چې ستا خو لاسونه، پښې او سترګې معذوره دي بيا نو ته د الله تعالی دکوم نعمت شکر اداء کوئ؟ هغه راته په ځواب کې وويل چې دا ګورې نه چې ژبه مې روغه ده او دالله تعالی ذکر وربانديې کوم . قسم په الله تعالی چې که چيرې الله تعالی پر ما دآسمان څخه اور و وروي او ما وسيزي او يا بحرونو ته امر وکړي او ما غرق کړي او يا ځمکې ته امر وکړي او ما ژوندی تير کړي زه به بيا هم دالله تعالی شکر اداء کوم. [الثقات لابن حبان) ج-٥ ص٣.

په دې سريزه اسلام د انسان د استعدادونو او ظرفيتونو جوړولو او لوړولو امر کوي، مسلمان واکمن دنده لري د ټولنې له هر غړي نه د هغه د توان په اندازه کار واخلي او د هر وګړي خدای ورکړی استعداد او ظرفيت را ژوندی او پياوړی کړي.

د اسلامي تمدن تاريخ د دې ګواه دی چې د اسلامي دولت د جوړيدو او پراختيا کې د ټولنې د هر وګړي له استعداد او ظرفيت نه کار اخيستل

شوی، او د هر فرد خدای ورکړي استعدادونو ته وده ورکړل شوې ده او د هيڅ چا بدني علت يا کمزورتيا د هغه د پرمختګ او ترقۍ خنډ نه ده واقع شوی، په ديني علومو سربېره د ساينس، ادب او فنونو په برخه کې هم د زرګونو هغو معلولينو نومونه يادولی شو چې د اسلامي واکمنۍ تر سيوري لاندې يې استعدادونو او ظرفيتونو وده موندلې او هر يو په خپل ډګر کې د شهرت څوکې ته رسيدلی دی.

اسلام د ژوند په ټولو برخو کې د ټولنې د دې پرګنې (معلولينو) حقوقو ته بشپړه پاملرنه کړې، اسلامي کتابتون د معلولينو د حقوقو په اړه ډېر څه لري د فقهې په ټولو بابونو؛ عباداتو، مدني حالاتو، مالي معاملاتو او جناياتو کې د معلولينو اړوند احکام په پوره تفصيل سره راغلي دي.

اسلامي تاريخ ټول په دې شاهدي ورکوي چې معلولين په اسلامي ټولنو کې په ډېر عزت، قدر او احترام سره اوسيدلي، کله هم داسې نه ده شوې چې څوک د کوم بدني عيب يا علت په خاطر له ژونده محروم شوي وي، بلکه د معلولينو په منځ کې داسې کسان شته چې ټول مسلمانان ورباندې وياړي، د اسلامي تاريخ ځلانده ستوري ياديږي او نه يوازې په خپله زمانه کې د قدرمن او باعزته ژوند خاوندان وو بلکه داسې منزلت ته رسيدلي چې تر قيامته به د مسلمانانو د سرتاج او د سترګو تور وي، د ژوند په هره برخه کې د مشرۍ او رهبرۍ درجې ته رسيدلي.

د لمر په شان روښانه ده چې د اسلام مقدس دين د بدن له کوم غړي او يا بل کوم دنيوي نعمته محروميدل او يې برخي کيدل عيب او عار نه شميري او نه په دې شيانو سره د چا مقام را ټيټوي او نه يې حقوق کموي.

معذوريت او معلوليت د مسلمان همت نه کمزوری کوي، بلکې زيات معذور او معلول خلک ليدل شوي دي چې د هغوی بزم او همت د زياتوسالمو او روغو خلکو څخه هم لوړ او عالي وي.

نړۍ د ځينو مقرراتو سره سم پرمخ ځي او دا مقررات د معلول او سالم انسان لپاره يو شان دي. دا په دې مانا چې که معلول انسان د نړۍ له قوانينو سره سم ژوند وکړي، هېڅکله به په خپل ژوند کې د محدوديت احساس ونه کړي او که روغ کس د نړۍ له قوانينو سره سم ژوند ونه کړي، له ډېرو محدوديتونو سره به مخ شي، معلوليت محدوديت ندی، يوازېنی محدوديت چې شتون لري زموږ په ذهن او فکر کې دی. کله چې زموږ فکرونه سالم وي، دا مهمه نده چې بدن مو روغ وي که نه، نو د دې افکارو او باورونو سره ورته پيښې او شرايط به زموږ ژوند ته ننوځي. اوس د دې توضيحاتو له مخې،معلوليت محدوديت نه دی، محدود ذهن محدوديتونه رامنځته کوي، تر هغه چې تاسو خپل فکرونه کنټرول نه کړئ، تاسو محدوديتونه لرئ، او دا د دې سره هيڅ تړاو نلري چې تاسو معلول ياست يا نه، ډېر داسې معلولين هم شته چې په نړۍ کې يې خپل رول موندلی او خپل رول يې ښه ادا کړی دی.

خدای جل جلاله د هر چا لپاره شرايط ټاکلي دي، هر څوک له يو لړ ستونزو سره مخ وي او معلول هم په ځينو مواردو کې له ځينو ستونزو سره مخ وي، خو د دې ستونزو ترڅنګ

باید د خپل ژوند د لارې موندلو او د خپل ځان د رول موندلو زده کړه وکړي. د یو معلول لپاره یوازې د معلولیت په خاطر د ژوند کولو مخه نیول د خپلو ستونزو په وړاندې د ګونډو وهلو په څیر دي.

هرځومره چې معلولین خپل ذهن له ناسمو او نامناسبو افکارو ډک کړي، هغوی به په هماغه اندازه په ذهني معلولیت اخته وي او کیدای شي معلولیت د هغوی لپاره بې حده محدودیتونه رامنځته کړي. که یو څوک یو ځانګړی هدف ولري، نو هغه به خپل ټول ژوند د هغه هدف لپاره وقف کړي او په پای کې به هغه ټاکل شویو موخو ته ځان ورسوي.

که تاسو په دې باور یاست چې معلولیت یو محدودیت دی، په غور سره فکر وکړئ او وګورئ چې ایا تاسو کوم هدف درلود چې تاسو یې ترلاسه کول غواړئ او دا معلولیت ستاسو مخه نیسي؟

ډیری خلک ممکن معلولیت خپل ژوند ته د دوام ورکولو لپاره د عذر په توګه وکاروي، هغه وکړئ چې د دې خلکو له جملې څخه ونه اوسئ. له ځان سره صادق اوسئ! که تاسو هدف نه لرئ، که تاسو پلان نه لرئ، نو دا مه وایئ چې معلولیت یو محدودیت دی. د خپل ځان لپاره موخې وټاکئ او د خپل حالت سره سم، وګورئ چې دغو موخو ته د رسیدو غوره لارې چارې کومې دي او بیا هڅه وکړئ چې د خپل معلولیت سره سره خپلو موخو ته د رسیدو لپاره ورته لارې وکاروئ.

د پوهانو او معلولو شخصیتونو د ژوندلیکونو په مطالعه کولو سره به پوه شو چې هر یو د خپل وخت د محدودو امکاناتو په پام کې نیولو سره، په زیار، هڅو او استقامت سره د پام وړ بریاوې ترلاسه کړې او په کلک هوډ سره په ټولو سختیو بریالي شوي دي. له بلې خوا، نه یوازې د دوی شتون په ټولنه باندې تحمیل نه دی، بلکې دوی د ارزښتناکو خدمتونو سرچینه هم ده.

د معلولیت ځینې ډولونه کیدای شي د ژوند په بهیر کې واقع شي، او هیڅوک د ژوند په مسیر کې له هغې څخه خوندي نه وي؛ راځئ چې د معلولینو ستونزې درک او د هغوی په وړتیا باندې باور وکړو، د دوی د حقونو غوښتنې پوره کړو، د دوی د ژوند درد او خوځښت د پوهیدو لپاره د لید او کلتور بدلون ته اړتیا ده.

نو د دوی پر وړاندې د ټولنې هر وګړی ځینې مکلفیتونه او مسؤلیتونه لري. دا د دوی دنده ده چې د ټولنې په جوړولو کې برخه واخلي، ټولنې هم باید د معلولینو په اړه د تمې کچه لوړه کړي او په دې کار کې خپلې ټولې سرچینې او هڅې په کار واچوي.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د بشري سرچینو له رئیس سره ځانګړې مرکه

په ادارو کې یو له مهمو او بنسټیزو برخو څخه د بشري سرچینو ریاستونه دي چې د کارکوونکو ټولې چارې په دې برخه پورې تړاو لري. په دې اړه مو وغوښتل چې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د بشري سرچینو له محترم رئیس ښاغلي مولوي محمد موسی صدیقي سره د یاد وزارت د تشکیلاتو په اړه مرکه ولرو چې ستاسو لوستونکو پام ورته راګرځوو.

پوښتنه: صدیقي صاحب که د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د تشکیل په اړه راته معلومات راکړئ؟ څومره تشکیل لري او د تېرې اداري په پرتله په تشکیل کې څومره توپیر راغلی دی؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم، نحمده و نصلی علی رسوله الکریم، لومړی خو د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست له کارکونکو څخه مننه کوم، چې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت یتیمانو، کونډو او معلولینو لپاره چې کوم نه ستړې کېدونکې خدمتونه تر سره کړي دي، تاسو یې په لیکلي بڼه د مجلې په شکل له هیوادوالو سره د شریکولو تابیا کړېده، الله (جل جلاله) دې ستاسو ادا خدمت په عالي دربار کې قبول کړي. ستاسو د پوښتنې په ځواب کې باید ووایم زمونږ وزارت اوس مهال یعنی ۱۴۰۲ لمریز کال لپاره ټول (۱۱۵۶) تشکیلاتي سقف لري چې د تېرې اداري د تشکیل په پرتله تقریباً نیم په نیمه زیات دی، باید ووایم چې د تېرې اداري په ۱۳۹۹ لمریز کال کې (۶۳۸) بستونه لرل،چې له هغي جملې څخه (۳۰۸) بستونه په مرکز کې او (۳۳۰) بستونه په ولایاتو کې موجود وو، په ۱۴۰۰لمریز کال کې نوي تشکیل شتون نه درلود او د ۱۳۹۹لمریز کال په تشکیل باندې کار کیده او په ۱۴۰۱ لمریز کال کې د لومړي ځل لپاره د نویو مرکزي او ولایتي ارتیاوو او د مراجعینو ستونزو

ته د رسیدو په موخه د ۱۴۰۱ لمریز کال کې مجموعاً (۱۰۸۶) بستونه منظور شول، چې لدې جملې څخه د مرکز تشکیل (۳۴۷) بستونه او د ولایاتو (۳۳۹) بستونه، چې له مخکنۍ کال په پرتله (۴۴۸) بستونو زیاتوالی شیي او د ۱۴۰۲ لمریز کال لپاره لکه چې مخکې مې یادونه وکړه؛ چې د مرکز تشکیل (۳۶۶) بستونه او د ولایت و(۷۹۰) بستونه لري چې له مخکنۍ کال سره یې (۷۰) بسته تفاوت دی.

دویمه پوښتنه: د کومې اړتیا له مخې مـو په ولایتــونو کې آمــریتونه په ریاستونو بدل کړل؟

ځواب: لکه څنګه چې ټولو ته معلومه ده د څلور لسیزو جګړو په اوږدو کې د بهرنیانو ښکاره یرغل او د اسلامي حکومت له بریا او بیا حاکم کیدو سره زیات شــمېر یتــیمان، کونــډې او معلولین، اسلامي امارت ته ورپاتې دي. د افغانستان اسلامي امارت په راتلو سره د هیواد ګوټ ګوټ کې امنیت تأمین دی او د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د کار ساحه پراخه شوې ده او د افغانستان د اسلامي امارت، د پخوانیو رژیمونو او ملکي تول یتیمانو، کونډې او معلولین مرکزي او ولایتي واحدونو ته مراجعه کــوي چې ورځ تــر بلې یې شمــېر زیاتیږي. په ولایتي واحدونو کې د آمریت په سطحه کارکوونکو د ثبت، تثبیــت، محاســبې او د میاشتنیو تأدیاتودورکړې توانائي نه درلوده. د وزارت رهبري پلاوي په ولایتي دفترونو کې د مراجعینو زیاتوالي او ورځنیو چارو ته په کــتو سره د اسانتیاوو برابــرول، د مراجــعینو د سرګرداني مخنیوي، د چارو د همغږۍ او د ثبــت، تثــبیت او مــیاشتنۍ مساعــدتونو ورکــړې پروســې ته د رسیدو په برخه کې لازم وګڼل چې په وخت ســره د یتیــمانو، کونډو او معلولینو ستونزو ته د رسیدګۍ په موخه په ولایتونو کې د شــهیدانو او معلولیــنو چــارو د آمــریتونو (۳) بستونه، (۲) بستونو (د شهیدانو او معلولینو چــار ریاستونو) ته ارتقا ورکړي او د هغوي تشکیل د ښارونو د جغرافیائي موقعیت او د یتیمانو، کونډو، معلولیــنو د احــصایې په پام کې نیولو سره پراخ کړي.

البته د پورتنیو معیارونو له مخې د ۱۳۹۹ لمریز کال د آمریتونو د (۱۰) بستونو څخه په ۱۴۰۱ لمریز کال کې په (۳) کټګوریو کې د هغو په تشکیل کې په لاندې ډول زیاتوالی راغلی: په لومړی درجه ولایتونو کې مرکزي تشکیل (۱۶) بستونه، دوهمې درجې ولایتونو کې (۱۵) او دریمې درجې ولایتونو کې (۱۴) بستونو ته لوړ شول.

پوښتنه: په ولسوالیو کې چې تاسو په کومه موخه مدیریتونه ایجاد کړي دي آیا په ریښتیا هم معلولیت لرونکو وګړو او یتیمانو ته یې سهولتونه رامنځ ته کړي؟

ځواب : هــو بلــکل ســل فیصده سهولتونه رامنځ ته شوي، د اشغال پر مهال د جنګ اکثره قربانیان د ولسوالیو خلک ول، همدا سبب ده چې هلته د کونډو او یتیمانو برخه زیاته ده، د ولسوالیو د مدیریتونو په واسطه موږ وکولای شول چې په اساني سره یاد مستحقین تثبیت او په فورمو کې ثبت کړو او مساعدتونه ورته ورسیدل او د دوی د ورځینیو ستونزو او مشکلاتو نه ځانونه خبر

کړو.

پوښتنه:د کارکوونکو د استخدام د پروسې په هکله راته ووایئ څه ډول پروسه ده؟

ځواب: د کارکوونکو استخدام عموماً لکه د نورو وزارتونو په څېر حکمي دی او یو شمېر بستونو ته متقاضیان د آزادې سیالۍ له لارې د استخدامي پروسیجر په نهایي کولو سره استخدامیږي، د استخدام اړوند نوې مقرره، چې مسوده یې د اړوندو وزارتونو د بشري سرچینو ریاستونو او بیا د عدلیې محترم وزارت کې د بشري سرچینو د رئیسانو په کمیټه کې له نهایي کیدلو وروسته استول شوې ده.

د استخدام پروسه یې عبارت دی له:

۱ : وړاندیز او د مقام حکم.

۲ : د استخدام د کمېټې لخوا یې ارزونه.

۳ : د عامې روغتیا استعلام.

۴ : د تحصیلي سویې د تثبیت لپاره د لوړو زده کړو وزارت او یا هم د پوهنې وزارت ته مکتوب.

۵ : د استخباراتو مکتوب.

۶ : د کورنیو چارو وزارت استعلام.

۶ : د بشري ځواک ریاست مکتوب.

پوښتنه:تاسو د شهیدانو او معلولینو چارو په وزارت کې معلولینو ته څومره د کار زمینه برابره کړې او څومره معلولین مو په دې وزارت کې په کار ګمارلي دي؟

ځواب: تر اوسه پورې د لوړ پوړو چارواکو په ګډون سره په مرکز کې (۲۳) تنه معلولین او په ولایاتو کې هم یو شمېر معلولین په خدمت مصروف دي.

د یادونې وړ ده چې د استخدام ازادې سیالۍ په پروسه کې معلولین د معلولیت له امتیازې نمرو څخه برخمن شوي دي.

پوښتنه:د کارکوونکو د ظرفیت او وړتیا لوړولو په برخه کې تاسو تر دې دمه کوم اقدامات تر سره کړي دي؟

ځواب: په دې برخه کې د ملکي خدمتونو انستیټوت ته د اداري او مسلکي زده کړو لپاره مو په مختلفو پړاونو کې زیات شمېر لوړ او ټیټ رتبه کارکوونکي ور معرفي کړي دي، همدارنګه د وزارت په داخل کې د یاد انستیټوت په همغږۍ سره په مختلفو پړاونو کې د مرکزي او ولایتي کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه اداري او مسلکي سیمینارونه دایر کړي دي او همدارنګه د وزارت مرکزي کارکوونکو ته د قرآن کریم د ناظرې زده کړه ورکړل شوې ده.

پوښتنه: لکه څرنګه چې ټولو ته معلومه ده، د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت یتیمانو، کونډو او معلولیـنو ته په ټـول هیـواد کې خدمتونه وړاندې کوي، چې په معیاري شکل هغوی ته د خدمتونو وړاندې کول یو پراخ تشکیل ته اړتیا لري، تاسو څومره دا اوسنی تشکیل کافي بولئ؟

ځواب: که څه هم په کاري ساحو کې د کارونو حجم ته په کتو سره موجوده پرسونل او تشکیل کم دی، مګر بیا هم مونږ په ټولو ساحو کې له کمیت څخه کیفیت ته زیات اعتبار ورکوو، چې په زیاترو مواردو کې ملګري یو کس د دوه یا دریو کسانو کار پر مخ وړي؛ ځکه چې د ملګرو هدف د الله (جل جلاله) رضا ده، همدا ده چې په پوره ایمانداري، صداقت او اخلاص سره خپل وسپارل شوې دندې پر مخ وړي او مونږ او تاسو یې د ښو لاسته

راوړنو شاهد يو.

پوښتنه: د کارکوونکو د مکافاتو او مجازاتو په هکله راته ووایاست، په دي وزارت کې یادې برخې ته څومره پاملرنه کيږي؟

ځواب: په دې برخه کې د یوې با صلاحیته کميټې لخوا چې د دې وزارت لوړ رتبه کارکوونکو هم په کې شتون درلود، په (۱۳) مادو مشتمله کړنلاره یا طرز العمل جوړ شو، چې د مقام او د وزارت د رهبرۍ مجلس لخوا تائيد هم شو او وروسته ټولو مرکزي او ولایتي واحدونو ته تکثير شو، چې د يادې کړنلارې په تناظر کې به ان شاء الله د تشويق او تنبيه چارې تر سره کيږي.

يادونه : . د وزارت په اکثرو برخو کې بریالي او مثمر کارونه تر شوي دي، چې د هغو څخه ددې وزارت د(۸۸۳) بستونو لپاره د دندو نوې لايحې جوړېدل او د پاتې(۲۰۰) نورو بستونو د دندو لایحې بيا کتنه او همدارنګه د (HRMIS) فعاله کېدل، چې د وزارت د ۱۴۰۰ - ۱۴۰۱او ۱۴۰۲ لمریز تشکيل او نورې اړونده چارې پې په کې داخلول د یادونې وړ دي.

له يوه تن معلول سره ځانګړې مرکه

د تیرو څو لسیزو جګړو له امله په هیواد کې زمونږ ګڼ شمیر هیوادوال د مختلفو دلایلو له امله معلول شوي دي، که څه هم معلول کسان د فزيکي اړخه د بدن يو يا څو غړي له لاسه ورکړي وي خو له نيکه مرغه ډيرى معلول کسان له روحي، رواني او فزيکي ورتياوو څخه ځان محروم نه بولي او په پوره پیاوړې روحيې سره نه يوازې خپلې کورنۍ ته بلکه ټولنې ته په خدمت کولو بوخت وي. په دې هکله مو له انجنير اسدالله امرخيل يوه تن معلول سره مرکه تر سره کړې چې ستاسو پام ورته را اړوو.

پوښتنه : . انجنير صاحب اسدالله که مهرباني وکړئ خپل ځان لوستونکو ته معرفي کړئ؟

ځواب : . اسدالله امرخيل يم د ميدان وردګو ولايـت اوسـيدونکی، اوسنی استوګنه مې په کابل کې ده، تر دولسم ټولګي مې په کابل کې زده کړې کړې دي او د ليسانس په کچه مې د هندوستان له هېواد څخه د انجنيرۍ له رشتې څخه د سند تر لاسه کړی دی.

پوښتنه :. د معلوليت علت مو څه وو، که په اړه يې لوستونکو ته معلومات ورکړئ؟

ځواب :. په ۲۰۱۰ م کال کې کله چې له ښوونځي څخه د کور په لور روان وم په لاره کې چاودیدونکو توکو انفجار وکړ چې په پايله کې زما چپ لاس تر اوږې پورې له منځه لاړ.

پوښتنه: آيا معلـوليت د دې باعـث کيدلای شي چې يو څوک خپلو موخو ته د رسيدو لپاره هغه خنډ وبولي؟

ځواب :. په ځينو مواردو کې هو او ځينو کې نه، که چيرته معلول خپل ځان ته داډ ورکړي، خپله روحيه له لاسه ورنکړي، دی هر څه کولای شي، له بده مرغه باید ووايم چې په افغانستان کې معلولينو ته په کمه سترګه کتل کيږي، مګر معلولين زياتې ورتياوې لري او کولای شي چې ډير څه وکړي خو که دوی ځان ته روحيه ورکړي او را پورته شي، نو بايد ووايم چې معلوليت خنډ نشي کرځـيدلای په شرط ددې چې معلولين خپلو ورتياوو ته متوجه شي.

پوښتنه: تاســو تــه معــلوليت څومره خنډ ګرځيدلی؟

ځواب : . معلوليت ماته خنډ نه دی

ګرځیدلی، ما چې کومې موخې لرلې هغوی ته رسیدلی یم، تر لیسانس کچې پورې مې په هندوستان هیواد کې زده کړې کړې، دا هم باید ووایم چې له نیکه مرغه دنده لرم او په نږدې راتلونکې کې پلان لرم چې په خپله رشته کې د ماسټرۍ پروګرام پیل کړم، نو ویلای شم چې زما لپاره معلولیت هیڅ ډول خنډ نه دی ګرځیدلی.

پوښتنه : . څرنګه چې معلومه ده په هیواد کې ډیری معلولین له جدی ستونزو او ننګونو سره مخ دي تاسو څنګه وکولای شول چې تر دې ځایه ځان ورسوې؟

ځواب: . ډیره ښه پوښتنه ده ما مخکې هم ورته اشاره وکړه چې معلولیت یو محدودیت دی نا توانې نه ده نو معلولین باید په خپل ځان باور ولرې بې حوصلې نه شي، زه خپلې کورنۍ او ملګرو تشویق کړم چې ته هر څه کولای شې، نو د هغوی د مثبتې انګیزې په پایله کې ما خپلې زده کړې وکړې، کومې ورتیاوې چې زما په وجود کې وې له هغې ما ګټه واخیسته او ورو ورو خپلو هدفونو ته ورسیدم، زده کړې مې وکړې کورنۍ لرم او له الله (ج) نه ډیر زیات مننه وی یم چې هر هغه څه مې چې غوښتې دې هغه مې تر لاسه کړې دي تر دې ځایه رسیدلې یم.

پوښتنه : - د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د معلولینو لپاره د حرفوي زده کړو زمینه برابره کړې ستاسو په آند دا به د معلولینو لپاره څومره ګټوره وي؟.

۸ ځواب : - یو اساسي کار چې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت کړی دی هغه معلولینو ته د حرفوي زدکړو برابرول دي، معلولین هغه قشر دی چې دوی زیاتې ورتیاوې لري مګر یو لاس نیوي ته ضرورت لري، دا د معلولینو لپاره ډیره ښه او پر ځای پرګرام دی، معلولینو لپاره ډیر موثر دي، معلول کولای شي چې خیاطي، موبایل ترمیم، کمپیوټر ترمیم او د برقي وسایلو ترمیم کې زده کړې وکړي او په دغه برخه کې ځان ورسوي، د ځان بسیا کولو لپاره په هر ځای کې کار وکړي شي ځکه دغه داسې رشتې چې معلول کولای شي د شاقه کارونو نه ځان خلاص کړي او په هر ځای کې ځان لپاره ورکشاپ جوړ او کورنۍ لپاره د رزق وسیله شي.

پوښتنه: - د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت، معلولینو ته نغدي میاشتنۍ مرستې ورکوي، دا مرستې څومره له دوی سره په ورځنۍ ژوند کې مرسته کولای شي؟

ځواب : - د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت چې کوم حقوق معلولینو ته ورکوي دا د دوي د لاس نیوي لپاره دي، ډیر مؤثر دي ځکه زموږ ډیری معلولین دي چې دوي له پښو غورځیدلي دي د کارکولو ورتیا نه لري نو دوی په دغو نغدي مرستو باندې کولای شي خپلې ستونزې حل کړي او ورځنۍ ژوند یې له همدغو مرستو سره تړلی دی دغه راز ځکه هغه معلولین چې مکمل فلج وي هغه د کار کولو ورتیا نه لري دوي سره ډیره مرسته کوي دغه راز په افغاني ټولنه کې معلول ته په ډیره حقیره سترګه لیدل کیږي د کورنۍ او د ټولنې لخوا نو دغه حقوقو په تر لاسه کولو سره ده ته دا روحیه ورکوي چې ځان لپاره ډوډۍ پیدا کولی شي.

پوښتنه : - د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت څخه ستاسو غوښتنه څه ده؟

ځواب : زموږ اساسي غوښتنه دا ده چې موږ ته دې د کار زمینه برابره کړي موږ چې کومې ورتیاوې لرو وکولای شو د هغو څخه په سمه توګه ګټه پورته کړو.

پوښتنه: - ستاسو پیغام معلولیت لرونکو وګړو ته څه دي؟

ځواب : - معلولین دی خپله روحیه له لاسه نه ورکوي دوی هر څه کولای شي کله چې په ځان باور ولري او تسلیم نشي.

شعر او ادب

افغانستان

قربان دي شم له دښتو او له غرو افغانستانه
وطـن يې د باتــورو شازلـمو افغانستانه
کوکري او ګيدړان در تللی نشي پاکي غيږ ته
يو ځـاله هـېڅبتي يې د زمـرو افغانستانه
خـپلواک ازاد وطن يې غلامي دي کړې نه ده
ښـکاره يې لـکه لـمر په تاريخـو افغانستانه
مفسـدو ته دوزخ شـي ورته ورکـړې عذابونه
سنـګر د مجـاهـدو توريالـو افـغانستانه
پتلـون او نېکټـايي او سرتور سر او قراقول ته
مرګـونی شان ګـزار يې د شمـلو افـغانستانه
خـواص انقـلابي لړې جنـګي جنګي وطن يې
د کلـک عـزم خاونده د جـذبو افغانستانه
کفري خـزان دي غـېږه کې ګلان کړل پاڼي پاڼي
دا ځـکه معـطر يې په وږمـو افـغانسـتانه
واړه واړه بچــيان دي قـرباني کـړل په بـدل
خـو ودې کــړه دفـاع د مېلمنو افغانستانه
په دين باندي مئين يې په پښتو باندي مئين يې
د پاکــو غېــرتمنـو پښـــتنو افــغانستــانه
ستــا غېږ کې موکرلي دي ځوانان لکه ګلـونه
اومــېد درنه لــرو د پسـرلــو افـغانستــانه
د پاکــو شهيــدانو جنــتي غوندې منظر يې
(مفتون) به دې ستــايم په تـرانو افغانستانه

اکرام الدين مفتون وېشنيزه:شعرونه

یکی شب های وانفسای دنــیا
شنیدم ناله ی یک طفـل تنـها
خـداوندا نـدارم مـن به دنـیا
رفیق و همدمی جز اشک شبها
نه دست مادری تسکین غم ها
نـه آغـــوش پــدر دارم خـدایا
یتیـم و بی کـس و نالانم اینجا
برایـــم درد و غـم کـردی مهیا
که چون پروانه ای صد رنگ زیبا
بسوزم این چنین بر شمع غم ها

چــو بیـنی یتیمی سرافگنده پیش
مده بوسه بر روی فرزند خویش

SHAHEED
Magazine

MMD.gov.af @MMD.gov.af 717